# په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه

## ( پوهنیزې لیکنې )

لیکوال : شاه محمود کډوال

۱۴۰۲ ل

# په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه

( پوهنيزې ليکنې )

ليکوال : شاه محمود کډوال

۱۴۰۲ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیلیزه

دا زما د بیلابېلو پوهنیزو لیکنو ټولګه ده چې د علمي رتبو له پاره مې لیکلي دي او د هېواد او نړۍ په بېلابېلو علمي مجلو کې خپرې شوې دي. یادې لیکنې مې پښتو برېښنایي پاڼو ته هم استولي او خپرې شوې دي. غوښتل مې ټولې بیا وګورم او له سره يې په ښه بڼه چاپي خپرې کړم ، خو اوس په دې فکر شوم چې دلته يې لومړنۍ بڼه خپره کړم ، که ژوند وو ، بیا به یې وروستۍ بڼه هم چاپ او خپره کړم. که له نړۍ تللي وو ، نو لږ تر لږه دغه برېښنايي ټولګه خو به د لوستونکو له پاره ګټوره شي.

وړاندې مې ولیکل چې لیکنې په مجلو کې خپرې شوې دي. ما سره یې د مجلو لیکلې بڼه نه شته ، هغه بڼه یې دلته خپروم چې ماسره وه. کېدای شي د مجلو له لیکنو سره توپیر ولري. ما ونه شو کولی ، دواړه سره پرتله او سمه بڼه یې دلته خپره کړم .

درنښت

پوهنوال شاه محمود کډوال

لغمان پوهنتون

۱۴۰۲ / ۳ / ۲۰

# غور ، د پښتو ادب لرغونی ټاټوبی

پوهنمل شاه محمود کډوال
د ادبیاتو پوهنځي استاد ، بغلان پوهنتون

**لنډيز :** د ( غور ، د پښتو ادب لرغونی ټاټوبی ) پوهنيزه ـ څېړنيزه مقاله ، د غور ولايت په تاريخ ، جغرافيه او په لرغون کې هلته د پښتنو ژوند ، واکمنی او تر ټولو مهمه ، په دې سيمه کې د پښتو ژبې او ادب ، پراختيايي بهير تر کتنې لاندې نيسي . له دې څېړنې څخه موخه ، د غور له تاريخي سيمې سره د پښتنو ، پښتو ژبې او ادب تړاو او هلته د پښتو ادب د روزنيز او پالنيز بهير څېړنه ده چې په دې برخه کې له نويو سرچينو ګټنې ، څېړنه پياوړې کړې ده . په څېړنه کې له باوري سرچينو ګټنه شوې ، چې د هېواد په پياوړو څېړونکو او ليکوالو پورې اړه لري . ليکنه ، د خپل ډول ځانګړې ده او نوښت لري چې د پښتو ژبې او ادب تاريخ لپاره ګټوره ده .

**سريزه :** غور د پښتو ژبې په منځنيو پېړيو کې ستر ځای لري . دا هغه سيمه ده چې په اسلامي پېر کې ، د پښتو ژبې لومړنی ترلاسه شوی اثر تري ترلاسه شوی دی . دلته پښتانه واکمن وو چې پخپله هم پښتوپال او ادبپال وو او دربارونه يې هم د پښتو پالنې ستر روزنتونونه وو .

په ياده موضوع کې وړاندې هم خورا ډېر کار شوی او درنو پښتو پوهانو پرې ګڼ شمير اثار ليکلي ، چې تر ټولو لومړنی او زوړ يې راته د استاد حبيبي (د پښتو ادبياتو تاريخ ) ښکاري .

زه نه شم ويلای چې دا ليکنه تر نورو غوره ده ؛ خو ارزښت يې په دې کې دی چې د زړو سرچينو او مالوماتو سربيره له نويو هغو هم ګټنه شوې ده . همدارنګه د غور ، تاريخي او جغرافيايي دريځ ، د نومونې فلسفه او له پښتنو او پښتو سره يې تړاو او نور غوره مالومات لري .

د دې ليکنې په ليکنه کې تر ډېره له کتابتوني څېړنيز ميتود څخه کار اخيستل شوی ، لامل يې هم دا وو ، چې په دې برخه کې غورو او پياوړو سرچينو شتون درلود ، چې دا مالومات له بلې لارې ترلاسه کول ناشوني وو . لږ و ډېر له سيمه ييز ( ساحوي ) څېړنيز ميتود هم کار اخيستل شوی ؛ زما د استوګنې په اوسني ځای ( بغلان ) کې د ( دهنه غوري او ډنډ غوري ) سيمې او دلته يوه مشهوره د سمنټ جوړولو فابريکه ( غوري سمنټ ) هغه سيمې او نومونه دي چې د جولې له مخې

، له غور سره تړلې ښکاري ، پورتنیو سیمو او ځایونو ته د څېړنې په موخه تللی یم چې د (غور) او ( غوري ) ترمنځ اړیکه زباته کړم .

**موخې :**

۱ ـ د لوړو زده کړو وزارت اړوند کادري غړي ، اړ دي د دې ترڅنګ چې ښوونه کوي ، څېړنه هم وکړي . د دې اړتیا بشپړول .

۲ ـ د پښتو ژبې او ادب د یوه څانګوال ښوونکي او څېړونکي په توګه ، د پښتو لیکنی پانګه ډېرول او خپله انساني ، اسلامي ، افغاني او پښتني دنده سرته رسول .

۳ ـ د څېړنې له لارې د څېړونکي پوهه پراخیږي ، چې ما دا موخه ترلاسه کړه .

۴ ـ پښتو ادب تاریخ ، هغه مضمون دی چې زه یې په ښوونه بوخت یم ، په دې برخه کې لوستنه او د نویو موضوعاتو رامنځته کول ، چې د ادب تاریخ مینه والو ته ګټور وي .

۵ ـ د غور او هلته د پښتو ادب په اړه د نویو مالوماتو وړاندې کول .

**د غور تاریخ او جغرافیه :** غور لکه د بامیان او اورزګان په څېر ، دافغانستان له مرکزي ولایتونو څخه شمیرل کیږي . دا ولایت د یو ښه او روښانه تاریخ لرونکی دی . په دولسمه او دیارلسمه میلادي پیړۍ کې د غور سلاطینو او واکمنو په تیوره کې د واکمنۍ مرکز جوړ او د هند تر نیمایي وچې پورې یې پراخوالی وموند . دې ولایت ډېرې دفاعي کلاوې درلودې ، چې تر ټولو مشهوره یې د قیصر کلا ده ، چې سلطان علاوالدین آباده کړې ده . همداراز د سلطان غیاث الدین قلعه سنګي یې تر څنګ یوه بله کلا ده ، چې په ( ۱۲ ) میلادي پیړۍ کې د غوري پاچاهانو مرکز وو . د هغو ځایونو یواځینی مرکز چې اوس پاتې دی ، د جام څلی ( منار جام ) دی ( ۱ : ۱۵۷ ) .

د غور ولایت مرکز چغچران دی او ټول اداري واحدونه یې چغچران ، تولک ، شهرک ، ساغر ، تیوره ، لعل و سرځنګل او پسابند دي چې ( ۵۰۴۶۵۹ ) وګړي پکې ژوند کوي . دا ولایت د مرکزي افغانستان په لوړه سطحه کې پروت ، سوړ غرنی اقلیم لري ، د واورې په ښه سخت او اوږده اوربښتونه ، ژمی یې ستونزمن ، اوړد او د کال شپږ میاشتې یخبندې وي ( ۹ : ۱۲۲ ) .

غور غرنۍ سیمه ده چې په تاریخ کې لوی نوم لري ، د غرجستان په نوم یاد شوی چې سیمه یې پراخه ده ، د غور ځینې سیمې په شاوخوا سیمو کې ګډې شوې . په غور کې په زرهاوو جنګي

کلاوې شته . د غوریانو په سلطنت کې ( فیروزکوه ) پلازمېنه او مهم ښار وو. مندیش ، اهنگران او نور مهم ښارونه یې هم لرل ، چې د ( بلاد غور ) په نوم یادیدل . د غور پاچاهان د غرونو د پاچاهانو په نوم یادېدل چې په عربي (ملک الجبال ) بلل کېدل .

مخکې تر اسلام او وروسته تر اسلام غور د لوړ نوم خاوند وو ، کله چې د غور اصلي استوګن د هند د سوبو په پړاو کې ، له غوره ووتل او د هند په هېواد کې مېشت شول ، غور خپل تاریخي برم او نوم له لاسه ورکړ . د تاریخ له څېړنو څرګندیږي چې د غور نومیالیو داسې یو ماشین فعال کړی وو ، چې د دوی اقتصاد پرې ولاړ وو .

غوریانو د هغه مهال ډېره ښه وسله جوړوله ، د غور وسله نورو هېوادو ته تله او په شاوخوا هېوادو کې خورا نامې وه . د سلطان سنجر سلجوقي او علاوالدین غوري ترمنځ په همدې وسله جګړه پیل شوه ، چې علاوالدین غوري پر سنجر هغه وسله وتړله چې د غور پاچاهانو ورکوله . پخپله غوریانو یو ډول وسله درلوده ، هغې ته به یې قلاب وایه . قلاب پر یو زنځیر تړلی وو ، چې له لرې پر دښمن اچول کیده ، د غور جنګیالي د قلاب په کارونه کې تکړه وو .

کله چې ګوډ تیمور د چین له لوري باروت له ځانه سره راوړل او د هغه د جوړولو طریقه یې چاته نه ښوده ، د غور وسله چې توره ، خنجر ، سپلاوه ، ګرز ، نیزه او قلاب وو ؛ له کاره ولوېدل او خپل قوت یې له لاسه ورکړ ، بیا د باروتو دوره پیل شوه او د غور زغروال سرتیري په باروتو مات شول ( ۴ : ۲۸۰ ، ۲۸۱ ) .

**د غور د نوموني فلسفه :** د غور او غرجستان وییونه ګډه ریښه لري . د غور ویی په لرغونو ژبو اوستا او سنسګریت کې د ( ګیري او ګیر ) په بڼه ، د غره په مانا راغلی او د پارتي ژبې په منځنی پېر کې د ( ګر ) په بڼه هم د غره مانا ورکوي . دا ویي اوس هم د ( ګر ، غر او غور ) په بڼه ، د ګردیز ، ګربز ، شولګر ، لوګر ، غوربند ، غرچه ، غورو غرجستان او چونغر په وییونو کې ، په پښتو او دری ژبو کې کارول کیږي . د جغرافیې په پخوانیو اثاروکې یې غور ، غرنی سیمه ( کوهستان ) بللی دی ( ۱۵ : ۱۷۹ ) .

غر په پښتو کې یوه ژوندی کارېدونکی ویی دی چې بېلګې یې خورا ډېرې دي ، لکه : غروال ، غرځنی ، غرزی ، غر پری ، غرڅن ، غرڅپه ، غر ځوکه ، غرشین ، غرنی ، سپین غر ، باباغر ،

کاشغر او نور .له غره او غور سره نور ترلي وييونه چې د هېواد بېلابېلې سيمې يې نومولې دي ، لکه :

- غوربند ( پروان )
- دهنه غوري او ډنډ غوري ( بغلان )
- غورماچ ( بادغيس )
- غوريان ( هرات )
- جاغوري ( غزنی )
- ساغر ( غور )

غورک ( کندهار )

په دې ترخ کې له پورتنيو نومونو سره ترلی يو پښتني ټبرنوم هم د يادولو دی چې غورياخيل دي غورياخيل ځانونه سربني پښتانه بولي او ويل کيږي چې د سړبن د زوی خرښبون له اولادې څخه دي . څرنګه چې د دوی لوی نيکه غری يا غوريا نوميده ؛ نو له دې کبله د دوی نسل ته غورياخيل هم وايي . د حيات افغاني په تاريخ کې کښل شوي دي چې غوريا څلور زامن درلودل ، دولت يار چې د هغه له اولادې څخه د مومندو او داودزيو دوه څانګې منځته راغلي . دری نور زامن يې خليل ، خمکنی او زيړان وو ( ۱۴ : ۲۰۰ ) .

خو په دې اړه بيا محمد عمر روند مياخيل ليکي :

د رواياتو له مخې د کند د دريېم زوی اولاده په غورياخيلو سره شهرت لري ، ده څلور زامن درلودل چې ,, دولت يار ، خليل ، خمکنی ( څوکنی ) او زيړانی نومېدل . دولت يار بيا دوه زامن درلودل چې يو يې (مومند ) او بل يې ( داود ) وو . د دوی اولادې په داودزيو ، خليلو ، خمکنيو او زيړانيو سره شهرت لري ( ٦ : ٢١٢ ) .

له پورتنيو څرګندونو څخه مو موخه داده چې وښيو د غورسيمه او نوم په همدې اوسنۍ بڼه يو پښتو ويي دی او ورسره نور وييونه ، چې پورته مو ياد کړل پښتو او پښتنو پورې ترلي دي .

غوريان د غور ويي سره ترلې ، هغه وګړنۍ ډله ده ، چې پر غور او سيمه يې واکمني کړې ده . بايد پوه شو ، چې دا وګړي چې يوه ځانوم ( غور ) ته منسوب دي ، څوک وو ؟ يا دا چې د غور ځانوم

په غوریانو پورې تړلی دی ،که څه هم  پورته څرګنده شوه چې غور او ورپورې تړلې نور ویبونه ټول پښتو دي او غور هم د پښتنو یو استوګنځی ؛ خو کله ناکله داسې هم وي چې د یوه پښتو ځاینوم لاندې ناپښتانه وګړي واکمن شوي وي . بله خبره داده  ، چې دا منو ، غور یو پښتو نوم او پخوا دا سیمه یو پښتون میشتې سیمه  او پښتنو دلته خپله واکمني درلوده ، خو اوس هلته ګڼې تېرنی ډلې میشتې دی ، چې ټول غوریان بلل کېدای شي .

پوهاند حبیبي لیکي : سوریان د خراسان او غور د افغانانو یو ټبر وو  ،  چې تر اوسه هم د هرات شمال لویدیځ د بادغیس د زورآباد ( زورابد ـ یاقوت ) په شاوخوا کې د ( زوري ) په نامه استوګن دي . تر اسلام  د مخه هم دغه کهاله د تخارستان ، غور ،  هرات  او خراسان په غرو کې حکمراني کوله او د  (غرشاه) په لقب یادېدل ( په دغه لقب کې ′ غر ′ پښتو ویی دی ) . دا کهول لرغوني افسانوي شخصیت (ضحاک ) ته منسوب دی ( دا نوم فردوسي ضحاک بللی او په پښتو سرچینو کې د تاریخ سوري په حواله سهاک دی . طبري ، البیروني او ابن بلخي یې (بیوراسپ ازدهاق ) یادوي او په مسعودي کې ( ده ـ اک ) راغلی چې د طبري په وینا یې معرب ډول ( ازدهاق ) دی . په اویستا کې ( دهاک اژی دها ) یادشوی ، چې په دري کې (اژدها) او په پښتو کې (اژدهار) دی ( ۲ : ۱۷۱ )  .

غلام محمد غبار په خپل اثر ( افغانستان در مسیر تاریخ ) د ( افغانستان در زمان دولت غوري ) تر سرلیک لاندې لیکي : سوري کورنۍ  د افغانستان یو ټبر او تر اسلام د مخه د غور واکمن وو  . له دې کورنۍ څخه یو وتلی او مشهور وګړی (ماهویه سوري) دی ، چې په اوومه پېړۍ کې  ، د اسلام د ظهور پر وخت  ،  د مرو  واکمن وو چې ساساني یزدګر یې وواژه .

ماهویه سوري له اسلامي لښکرو او عربانو سره یوځای او مسلمان شو ، خو د غور سوریانو وکولای شول  تر څو پېړیو پورې  د عربو  او افغاني اسلامي واکمنیو پر وړاندې خپله خپلواکي وساتي . د غور جغرافیایي وضعیت  ، اوږدې لارې  ، د غرونو په لوړو کې ګڼې ټینګې پوځي کلاوې او سخت ژمي  ،  د  خلکو  له  سرښندنو  سره  یوځای  سیمه  ییزه  خپلواکي  ساتله  .  د  غور  له سیمه ییزو واکمنو څخه لومړنی سړی (امیر پولاد شنسبي) وو ، چې په اسلامي پېر، اتمه پېړۍ کې د افغانانو له ملي غورځنګ سره  ګډ او  د اموي دولت پر وړاندې یې ، د ابومسلم خراساني ملګرتیا وکړه  ( ۱۰ : ۱۲۹ ) .

د غوریانو په اړه سید بهادرشاه  ظفر کاکاخیل لیکي  : د غور نه موخه هغه غرنۍ سیمه ده چې د هندوکش د ټېرنې زنځیر نه جوړه ده . دا سیمه د هرات ، فراه ، کندهار ، او اوسنې هزاره جات په منځ کې پرته  ده . ټوله سیمه غرنۍ او په خلکو یې اغېز ځرګند دی . د پښتنو د خپلو مورخینو د لیکنو پر بنسټ ، دا سیمه د پښتنو آر او اصلي ټاټوبی ګڼل کیږي . د دې سیمې وګړي تل د خپلې خپلواکۍ په ساتنه او خوندیینه کې بریالي وو ، خو د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پر وخت ، دې سیمې او وګړو باج ومانه  ،  دا وخت امیرمحمد سوري د غور واکمن وو .
پخوا په غور کې څلور وګړنۍ ډلې وې چې د سوري ، تایمني ، جمشیدي او فیروزکوهي په نومونو یادېدلې . د غور شاهي واکمني له سوریانو سره وه . تر ډېره فکر کیږي چې سوري پښتانه د عربو مورخینو له لوري د ( زوري ) په نوم هم یاد شوي دي  ( ۸ : ۲۸۹ ) .
ملک الکلام مولانا فخرالدین مبارک شاه المزوري د غور د نومیالیو  واکمنو نسب نامه په نظم کړې او د دغو واکمنو ( غوریانو ) د لړۍ سر یې مشهور ضحاک ته رسولی دی . دغه حکم د ماه ملک ، د سلطان السعید غیاث الدین والدنیا ابو الفتح محمد بن سام د لور له خوا ورکړل شوی دی .
د ملک الکلام مولانا مبارک شاه المزوري د خولې خبره ده ، چې اغلې شاهزۍ ماه ملک  زه وغوښتم او ویې ویل د غوري واکمنو او سلاطینو احوال ولیکم . اغلې ماه ملک یوه مدبره پوهه شاهزۍ وه ، چې د دې صفتونه په ډېرو ډېرو پېغلو کې لیدل شوي نه دي ،  هغه داسې :
په تاریخ پوهیدله ، لیک یې لکه مرغلرو ښکلی وو . د قرانکریم حافظه وه ، هر کال یې دوه رکعته لمونځ  کاوه چې نیم قران به یې په لومړي رکعت کې وایه او نیم به یې په دویم رکعت کې ، بله دا چې دې میړه ونه کړ . کله چې د دې نومیالۍ پلار امپراتور سلطان غیاث الدین وفات شو ؛ دا  اووه کاله پر جای نماز ناسته وه او لمر یې په سترګو  ونه لید او خپل پلار ته یې دوعا کوله . مطلوب دا چې د همدغې مبارکې شاهزۍ په حکم د غوریانو تاریخ لیکل شوی دی .
که چېرې دا لړۍ په اوسنۍ ژبه بیان کړو د ضحاک نوم عربي شوی ؛ که نه په اصل کې سهاک یا ساک دی . دویم د ده اولاد  سام  ، شنسباني او سوري یاد شوی دی . وایي ضحاک ډېر کلونه ژوندی وو  او دنیا یې نیولې وه  . هغه یې په اوو اقلیمو ویشلې وه  . له ده ( ضحاک ) سره یوه شپېلۍ وه  چې اووه سوري یې درلودل  .  په هر اقلیم کې به چې ښوربښت او خوځښت رامنځته شو  ، له

هماغه سوري نه به غږ پورته شو . ضحاک به بیا د هغه تدبیر کاوه . ځیني خلک وايي ضحاک کوډګر وو ، ځیني وايي د ده پوهه او ذکاوت له حده ډېر وو او په سلګونو نورې کیسې لري . کومې خبرې چې طبقات ناصري د غوریانو د مخینې په اړه کړې ، هغه به وګورو ، بیا به د دغې زمانې پايلو او څېړنو ته راشو .

وايي ضحاک (سهاک ، ساک ) د علوان زوی وو ، هغه د علاق ، هغه د غوض ، هغه د آرم ، هغه د سام او هغه د نوح ( ع ) زوی وو ، ځیني مورخینو ویلي چې ضحاک د اروند اسپ زوی وو . ځیني داسې روایت کوي ، کله چې ضحاک ماته وکړه ، د هغه دوه ورونه او دوه زامن نهاوند ته لاړل . مشر ورور يې سور نومیده ، هغه امیر شو او کشر ورور يې چې سام نومیده سپه سالار شو .

امیر سور یوه لور درلوده او سپه سالار سام یو زوی درلود چې په کوچنیوالي يې سره ورکړې وو . یو له بله سره خواږه وو ، سپه سالار مړ شو ، زوی يې یو زړور او پوه ځوان وو ، چې حاسدان يې ومونډل . حاسدانو امیر سوري ته شکایتونه وکړل ، د اکا خوا يې ترې بده کړله او ویې غوښتل نجلۍ یو بل پاچا ته ورکړي . نجلۍ خبره شوه ، د اکا زوی ته يې خبر ورکړ ، دواړه له هغه ځایه وتښتېدل او د غور غرونو ته راغلل او په مندیش کې يې واړول . د خدای (ج) رضا وه ، د دوی له نسله لوی او معظم پاچاهان څرګند شول . د دوی کورنۍ په شنسب مشهوره شوه . په هند و سند ، امیرپولاد ، امیربنجي ، دویم امیر سوري ، دریم محمد سوري ، سلاطین ، پاچاهان او امپراتوران د ترکیې او عراق له سرحدو ترجنوبي هند پورې ورسېدل ( ۴ : ۲۲۲ ـ۲۲۴) .

ښاغلی استاد زلمی هیوادمل لیکي : غور د افغانستان یوه لرغونې او تاریخي سیمه ده ، چې د پاچاهیو سلسلې پکې تېرې شوي دي او د دې سیمې پاچاهانو د اسلام د مقدس دین د خپرولو په چارو کې هم لویه برخه درلودې ده .

د پښتنو په لرغونو استوګنځیو کې یوه هم د غور سیمه شامله ده ، چې د غور له سوریانو سربېره د پښتنو د ځینو نورو قبایلو تړاو هم له دې سیمې سره ښکاره دی . د پښتنو په قبایلو کې یوه لویه قبیله ، د غوري یا غوریا خیلو پښتنو ده ، چې د تاریخي اثارو او نسبي څېړنې د کتابونو د روایاتو له مخې د کند بن خرښبون بن سړبن په اولاد کې د غوري په نوم د یوه تن ذکر راځي . د مخزن افغاني

د روايت  له مخې ، د دې سړي اصلي نوم شيخ ابراهيم وو ، خو څنګه چې په غور کې زوکړی وو ، نو د غوري په نوم مشهور وو او اولاده يې تر اوسه د غوري او يا غورياخيلو په نوم يادېږي .
د غور د اوسني مرکز چغچران ختيځ ته اوس هم د دولت يار په نوم يو کلی شته ، چې د غوري پښتنو د دولت يار د قبيلې له نوم سره اړه لري . د استاد عبدالشکور رشاد د څېړنې له مخې ، دغه غوري پښتانه د چنګيزخان ( ٦٢۴ هـ  ق  مړ ) له بريدونو وروسته له غور څخه کوچېدلي ،  مخ په جنوب او ختيځ  لېږدېدلي دي .
له غورياخېلو پښتنو سربېره ، د نورو ډېرو پښتني قبيلو د اوسېدو پخوانی ټاټوبی هم غور وو او ډېرې پښتني قبيلې له دې سيمې څخه نورو سيمو ته تللي او خورې شوې دي . له دغو تاريخي رواياتو او اسنادو ښکاري چې د اسلامي عصر په اوايلو کې د غور زياتره استوګن پښتانه وو او د دوی ژبه پښتو وه  ( ١٣ : ٢٧ ، ٢٨ ) .
ښاغلی اورنګزيب ارشاد ليکي : تر اسلام دمخه د غور ولايت سيمه ييزه واکمني درلوده ، چې (سوري )کورنۍ پکې واکمنه وه  . دوی به پاچا  ( غرشا ) باله . د دې کورنۍ غړيو په لومړۍ هجري پېړۍ کې د شنسب يا بهرام شاه سوري په مشرتابه د اسلام د څلورم خليفه حضرت علی (رض ) د خلافت په وخت د اسلام مقدس دين ومانه . تر هغې وروسته د دوی سيمه ييزې  واکمنۍ تر څلورمې پېړۍ دوام وموند . تر اسلام دمخه د دې کورنۍ وتلي واکمن بسطام او شماخ وو . د  اسلام تر منلو وروسته په لومړۍ ، دويمه  او دريېمه  پېړۍ کې امير پولاد غوري ، امير بنجي غوري او امير سوري د محمد زوی او امير کروړ سوري  يې وتلي واکمن وو ( ١ : ۴١ ، ۴٢ ) .
ښاغلی مولانا  اکبرشاه  نجيب آبادي ليکي : د هرات په ختيزو غرنيو سيمو کې غور د يوې پراخې او غرنۍ سيمې نوم دی . سلطان محمود غزنوي دغه سيمه فتحه کړې او د خپل سلطنت يو ولايت يې ګرځولی وو  .  د غور استوګنو د  دويمې هجري پېړۍ په پيل کې اسلام منلی وو او دلته ټول پښتانه قومونه آباد وو  ، محمود غزنوي د غور په ولايت کې ، له همدغو پښتنو نه يو تن والي ټاکلی وو ، چې په کورنۍ کې يې د غور ولايت حکومت له پخوا نه موجود وو ( ١١ : ٣٦٣ ) .
ښاغلی داکتر باقي درانی ليکي : پر غور ، باميان  ، ګوزګان او هرات د غوريانو حکومت وو ، غوريان په ختّه سوريان وو ، چې د غور او خراسان يو غښتلی افغان ټبر وو ، تر اسلام له مخه هم د دغه ټبر

مشرانو د غرشاهانو په نومونو حکومتونه کول . دوی زړو تاریخپوهانو (ضحاک او سهاک ) بللي دي . ( ۵ : ۱۹۸ ) .

**په پښتنو کې د سوریانو ریښه او مخینه :** غوریان په اصل کې سوریان دي ، پخپله یې هم د سور او سام نومونه له خپل نوم سره ویلي او لیکلي دي . کله چې خبره د سور شي ، بیا موضوع پراخ بنسټ لري ، چې هغه باید په تاریخ کې وڅېړل شي . سور ، سوریاني ، سومر ، سومري ، آشور دا یوه مانا لري او د سند په حوزې پورې تړلي دي . که موږ د سند په مدنیت خبرې وکړو ، تر هغه ځایه چې ما لوستي د امریکې ، انګلستان او نورو هېوادو په پوهنتونو کې د سومري مدنیت ځانګړي ماهران شته چې د پوهاند په سویه درس ورکوي . پینځه زره سومري کې چې د ځلور زرو کلو مدنیت ښیي ، اوس هم شته . د دغو کتیبو شتون د تاریخ په څېړنه کې یو اوښتون راوستی . تر ( ۱۹۲۰ م ) پورې داسې فکر کېده چې د مصر او یونان مدنیتونه به لرغوني وي ، مګر په دغه کال ( ۱۹۲۰ م ) چې د سند مدنیت ومونډل شو او د سند او بین النهرین اړیکي په همغه لرغوني مهال کې د تاریخ بڼه واړوله .

د لرغونپېژندونکو له خوا ډېرې پوښتنې وشوې ، چې سومري په بین النهرین ، کلده ، آشور یا سومراکه کې که سامي وي ، نو ژبه یې ولې نه ده او لرغونې سنسګریت ده ؟ که دا او هغه خلک یو وي ، نو دلته کله راغلي ؟

سور لمر ته وایي ، سوریا د لمر خدایګوتې ( رب النوع ) دی ، چې د هغه د عاجو مجسمه د کابل د خیرخانې په غونډۍ کې ترلاسه شوه . آشوري کتیبې ، کابل کې هم مونډل شوې ؛ ماهم کابل کې یوه ټوټه درلوده ، چې اوس یې په سرنوشت خبر نه یم.

د سند د حوزې مدنیت او سور ، سوري ، غوري ، غوري شنسب ، سام ، ټول هغه شکونه لرې کوي ، چې څوک وایي پښتانه بني اسراییل دي یا عرب . حتی تر آریایانو هم پخواني وګړي دي . دوی جنوبي هند ته د ګجرات له لارې تللي او هلته دوه سوه میلیونه دي . اوښتون هم دادی چې دا ډول نظریې ومنو ( ۴ : ۲۸۱،۲۸۲ ) .

**غور او پښتو ادب :** غور د پښتو لرغونو ادبیاتو د رامنځته کېدو ، له درېو مرکزونو ( غور ، کسي غر او ملتان ) څخه یو دی ، چې هلته پښتنو خپلې واکمنۍ درلودې او پښتو ادب پکې روزل شوی او پالل شوی دی . دلته ترې لنډه یادونه کوو :

**۱ ـ امیر کروړ او د هغه حماسه :** امیر کروړ سوري د امیر پولاد زوی ، له غوري شاهانو او پښتو شاعرانو څخه وو ، چې د پلار تر مرګه وروسته ، په ۱۳۹ هـ کال ، د غور په مندیش کې پاچا شو .

پټه خزانه ، د محمد بن علی البستي د تاریخ سوري ، د حوالې پر بنسټ لیکي : د عباسي دعوت په جګړو کې چې امیر کروړ سوري ، ډېرې سوبې وکړې ؛ نو یې دا بیتونه وویل چې ویاړنه یې بولي هغه دا دي چې شیخ کټه ( ع ) له تاریخ سوري را اخیستي دي .

زه یــم زمـــری پــر دې نـــړۍ له ما اتل نشته
پـر هنـد و سنـــــد و پر تخـــــار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته ، له ما اتل نشته
غشـي د مـن مـې ځـــي برېښنـــا په میرڅمنـــو باندې
په ژوبلـــــه یونـــم ، یرغالـــم ، پر تښتېدنـــو باندې
په ماتېدونو باندې ، له ما اتل نشته
زما د بریـــو پر خـول تاویږي هسک په نمنځ و په ویاړ
د آس له سوو مې مځـکه ریږدي غـــرونه کاندي لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ، له ما اتل نشته
زما د توري تر شپـول لاندې دي هـرات و جـــــــروم
غـرج و بامیان و تخـار بولي نـــــوم زما پـه اودوم
زه پېژندوی یم په روم ، له ما اتل نشته
پر مـرو زما غشـي لونـــي ، ډاري دښـــــن راڅخه
د هـــریوا د رود پر څنـــډو ځـــم تښتي پلــن راڅخه
رېــي زړن راڅخه ، له ما اتل نشته

د زرنج سـوبه مې د تـورې په مـــخ ســـــــور وکړه
په باداری مې لـــوړاوی د کـــول د ســـــــور وکړه
ستر مې تربور وکړه ، له ما اتل نسته
خپلـو وگـړو لره لــــــور پېــــــرزوینه کـــــوم
دوی په ډاډینـــه ښه بامـــم ښه یې روزنـــــه کـوم
( ۳ : ۴۴۱ ، ۴۴۲ )

ښاغلی استاد هېوادمل ( د پښتو ادبیاتو تاریخ ) کې د پورتني شعر ځانګړني داسې راښيي :

۱ ـ د امیر کروړ سوري پاړکی ، چې پټې خزانې تر موږه رارسولی ، د متونو د استناد له معمولو نورمونو سره برابر دی . پټې خرانې دا پاړکی له لرغوني پښتانه او لرغوني پښتانه له تاریخ سوري شخه را اخستی دی .

۲ ـ د امیر کروړ پاړکی له مانیز اړخه ویاړنه ده ، دا ډول شعرونه ویل هغه وخت په عربو او عجمو کې دود وو .

۳ ـ د جولیز او شکلي جوړښتونو له پلوه د امیر کروړ ویاړنه ، نه د ختیځ له دیواني شعري ډولونو سره او نه له پښتو ملي شعري ډولونو سره سل په سلو کې ورته والی لري .

۴ ـ د امیر کروړ شعر د ژبنیو او لغوي څېړنو له نظره هم د توجه وړ دی .

۵ ـ د امیر کروړ د شعر ژبه لا تر اوسه رواني لري ، سره له دې چې ځینې وییونه یې له کاره لویدلي دي .

٦ ـ د امیر کروړد شعر له مطالعې سړی ته تر یوه حده د شاعر فکري سیر او د هغه وخت د پښتنو روحیه او له خپل ولس سره د امیر کروړ مینه ، ښه ترا ځرگندیږي .

۷ ـ د امیر کروړ له وخته وروسته ، تر څو پېړیو پورې په غور کې د پښتو ادب د رامنځته کیدو زمینې نورې وې او د هغه وختني غور په توابعو کې د پښتو ډېر نور اثار هم رامنځته شوي دي ( ۱۳ : ۳۰ ـ ۳۲ ) .

۲ ـ **شیخ اسعد سوري** : شیخ اسعد سوري د غور استوګن او د محمد زوی دی ، د غور د سوري شاهانو په دربار کې یې ستر ځای درلود .

شيخ د امير محمد سوري معاصر او د غور په اهنگرانو کې د دې سوري واکمن په دربار کې ديره وو . په ( ۴۲۵ هـ ) کې يې نړۍ پرېښوه او ومړ .

د پښتو ژبې لومړنۍ لاسته راغلې بوللـه يا قصيده په شيخ اسعد سوري پورې تړاو لري ، چې په دا ډول ده :

د فلـک له چـارو خـه وکـړم کـوکار
زمـولوي هر گل چـې خانـدي په بهار
هر غټـول چـې په بيـديا غـوړيده وکا
ريـژوي يـې پاڼـې کانـدي تـار پـه تار
ډير مـخـونه د فلـک خپـړه شنه کا
ډير سرونه کا تر خـاورو لانـدې زار
د واکـمن له سـره خول پريباسي ، مـړ سي
د بېوزلو وينـې توی کانـدي خـونخوار

نور . . .

( ۸۱ : ۷)

**۳ ـ شيخ تيمن کاکړ :** شيخ تيمن د اکړ نيکه زوی ، د پښتو له پخوانو شاعرانو څخه دی ، چې د پټې خزانې ليکوال د ده ژوند او شعرونه د شيخ بستان بړيڅ له ( بستان الاوليا ) څخه را اخيستي دي . شيخ د غور په کجران کې اوسيده او په همدې ځای کې په ( ۵۵۰ هـ ) کال مړ دی . لاندې وينا ترې پاتې ده :

گهيـځ رڼا د لـمر خپـره سـوه
زما پـه کـور د ويـر ناره سـوه
د ببلتـون ورځ تـوره تياره سـوه
ږغ سـو ناڅاپه چې ببلتـون راغی

نور . . .

( ۸۰ ، ۷۹ : ۱۲ )

**۴ ـ ښکارندوی غوري :** د پښتو له پخوانیو قصیده ویونکو څخه یو هم ښکارندوی دی . دی د غور استوګن او د احمد زوی وو ، چې پلار یې احمد د فیروزکوه کوټوال وو . د ژوند زمانه یې ( ۵۸۰ هـ ) کال اټکل شوی دی . لاندې قصیده ترې پاتې ده :

د پسرلي ښکلـــونکي بیا کـړه سینګارونه
بیا یـې ولـونل په غـرونه کې لالـــــــونه
مڅکه شنه ، لاښونه شنه ، لمنې شنې سوې
طیلسان زمردي واغوستــه غـــــــــرونه

نور . . .

( ۴٦ : ۱۳ )

**۵ ـ تایمني :** د تایمني په نوم موږ د پښتنو یو پخوانی ادیب او شاعر پېژنو ، چې د ژوند مهال یې ( ۵۸۰ هـ ) حدود ټاکل شوی دی . ویل کیږي ، چې تایمني د سلطان غیاث الدین غوري معاصر او د زمیندار استوګن وو .
د وینا بیلګه یې لاندې ولولئ :

نن زه رغیږم په صفت د سلـــــطان
چې دی بادار غازي ملک د جهان
د فیـــروزکوه او غـور رڼا له ده ده
هم د تېرو ، تــورو برېښنـا له ده ده

نور ...

( ۵۲ : ۱۳)

**پایله :** غور د اوسني افغانستان یو ولایت ، د پښتو ادبیاتو له لرغونو منځیو څخه یو دی ، چې پښتانه هلته میشت او واکمن وو . واکمنو ، پښتو کوله ، ویله ، لیکله او اوریدله ، د پښتو پالـنې او روزنې لپاره یې خپلې شته شونتیاوې کارولې او دربارونه یې د پښتو په چوپړ کې وو .

له بېلابېلو کورنيو او بهرنيو سرچينو څخه زباتېږي ، چې غور په  همدا اوسنۍ جوله او بڼه ، يو پښتو ويی دی او ورسره تړلي ټول ويونه هم پښتو دي . کله چې په دې سيمه نوم پښتنو ايښی ؛ نو څرګنده ده ، چې د پښتنو د استوګنې سيمه ده .

په غور کې پنځيدلي پښتو لرغوني ادبيات ، د پښتو د ټولنيز  ژوند هينداره ده او د دوی د ژوند بېلابېل اړخونه پکې څرګند شوي دي . دا توکي نه يوازې دا چې د ادب لپاره غوره دي ؛ بلکې د تاريخ لپاره هم غوره  څېړنيز توکي دي .

**اخځليک :**


۱ ـ ارشاد ، اورنګزيب . ( ۱۳۸۴ ش ) . افغانستان پېژندنه .پېښور . دانش خپرندويه ټولنه .

۲ ـ حبيبي ، عبدالحی . ( ۱۳۷۸ ش ) . د افغانستان لنډ تاريخ . پېښور . دانش خپرندويه ټولنه .

۳ ـ حبيبي ، عبدالحی . ( ۱۳۸۴ م ) . د پښتو ادبياتو تاريخ . پېښور . دانش خپرندويه ټولنه .

۴ ـ حداد ، قدرت الله  . ( ۱۳۸۳ ش ) .  افغان ملي تاريخ  ، لومړی ټوک . پېښور . د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز .

۵ ـ درانی ، باقي . ( ۲۰۰۸ م ) . پښتانه د تهذيب په څپو کې . کوټه . صحاف خپرندويه ټولنه .

٦ ـ روند مياخيل ، محمد عمر . ( ۱۳۸۳ ش ) . د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې . کابل . ميوند خپرندويه ټولنه .

۷  ـ  زيور ، زيورالدين . ( ۱۳۸٦ ش ) . د پښتو ادبياتو تاريخ ، لرغوني دوره . پېښور . د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز .

۸ ـ ظفر کاکاخيل ، سيد بهادر شاه . ( ۲۰۰۹ م ) . پښتانه د تاريخ په رڼا کې . پېښور . يونيورسټي بُک ايجنسي .

۹  ـ  عارض ، غلام جيلاني . ( ۱۳۷۹ ش ) . جغرافيای ولايات افغانستان . پېښور ، اداره کتابخانه های سيار اريک .

۱۰ ـ غبار ، غلام محمد . ( ۱۳۴٦ ش ) . افغانستان در مسير تاريخ . کابل . دولتي مطبعه .

۱۱ ـ نجیب ابادي ، اکبر شاه . ( ۱۴۳۰ ق ) . د اسلام تاریخ ، درېیم ټوک . پېښور . پیغام خپرندویه ټولنه .

۱۲ ـ نیازی ، شهسوار سنګروال . ( ۱۳۷۵ ش ) . د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ . پېښور . د احمدشاه ابدالي پوهنتون .

۱۳ ـ هېوادمل . زلمی . ( ۱۳۷۹ ش ) . د پښتو ادبیاتو تاریخ ، لرغوني او منځنۍ دوري . پېښور . دانش خپرندویه ټولنه .

۱۴ ـ یاد طالبي ، عبداللطیف . ( ۱۳۸۵ ش ) . پښتني قبیلې . پېښور . دانش خپرندویه ټولنه .

۱۵ ـ یمین ، محمد حسین . ( ۱۳۸۰ ش ) . افغانستان تاریخي . پېښور . انتشارات کتب .

## پښتو توري ، ابېڅې ، ليکدود او نوي اندونه

پوهنمل شاه محمود کدوال

**لنډيز** : پښتو اوسني توري ، ابېڅې او ليکدود ، چې بنسټ يې عربي دی ، د پښتو آوازونو او وينا ليکنې لپاره بسيا او بشپړ نه دي او يو شمېر نيمګړتياوې لري . په دې ځای کې د پښتو تورو ، ابېڅې او ليکدود نيمګړتياوې په ګوته شوي او د هغوی د بشپړونې لارې چارې هم ښوول شوي دي . د دې ترڅنګ د پښتو او ناپښتو کلمو د ليکنې په اړه هم ګټورې خبرې لري .

**سريزه** : پښتو ژبه ، چې د سيمې او نړۍ د لرغونو ژبو څخه ده ، د پښتنو د ټولنيز ژوند او ژواک سره انډول ژبني توکي لري او د پښتنو د ورځنيو مادي او مانيزو اړتياوو د بشپړونې او ذهني توکو د ليږد راليږد وړتيا لري . پښتو ګڼنۍ يا د وينا ژبه ځانګړی طبيعي غږيز جوړښت ، جلا او ځانګړي آوازونه لري . ښايي هر ډول پښتو او ناپښتو کلمې همدې طبيعي غږيز جوړښت ته په پام سره ووېل او وکښل شي .

**موخې :**

۱ ـ د لوړو زده کړو وزارت د علمي غړي په توګه خپله دنده سرته رسول .

۲ ـ د پښتو ژبې د يوه ښانګوال په توګه ، پښتو کې څېړنې او له دې لارې پښتو علمي پانګه ډېرول .

۳ ـ د څېړنې له لارې خپله علمي کچه لوړول او اړونده نويو ښانګوالو ته څه په لاس ورکول .

۴ ـ د پښتو کره ليکنې په برخه کې علمي لارښوونې او لاسته راوړنې وړاندې کول .

پښتو توري ، ابېڅې او ليکدود اوس عربي دي ، خو وړاندې يې د ( ميخي ، ارامي ، خروشتي او يوناني ) پړاوونه وهلي دي ( ۳: ٦ ) .

په پيل کې غوره ده ، چې پورتنۍ نومونې وپېژنو :

۱ ـ توری ، حرف (Grapheme) : هغه ليد وړ انځور ، چې د يوه يا څو آوازونو ښکارندويي کوي .

۲ - ابېڅې ، الفبې ( Alphabet ) : د هغو ټولو تورو ډلې ته وايي ، چې د يوې ژبې د ټولو آوازونو انځورنه کوي .

۳ - ليکدود ( Orthography ) : د يوه ټاکلي الفبايي سيستم په چوکاټ کې دننه د يوې ژبې د وييونو ( کلمو ) کښنګ ته وايي ( ۲ : ۱۱ ) .

د ( ليکلار ) نومونې پېژندنه هم راته اړينه برېښي :

۴ - ليکلار ( Orthography ) : په ليکلار کې ژبني اړخونه او ګرامري جوړښتونه تر پام لاندې نيول کيږي (۱: ۱۴).

د ( Ortho ) مانا کره ، ستندرد ، بشپړه او د ( Graphy ) مانا هم کښنک او رسامي ده ، چې د دواړو ترکيب

( Orthography ) په يوه ژبه کې کره ، سم او بشپړ کښنک ته وايي . انګرېزي متن يې داسې دی :

Orthography: The system of spelling in a language (٥:٦٧٧, ١٠٧٢, ١٠٧٣)

ابېڅې د يوې ژبې د ټولو آوازونو عيني يا جوليزه بڼه ده . هر توری د يوه آواز ( Phoneme ) استازی دی . له همدې امله وايي ، بشپړه ابېڅې هغه ده ، چې د يوې ژبې د ټولو آوازونو لپاره توري ( Graphemes )ولري . د دې پېژند له مخې زموږ اوسنۍ پښتو ابېڅې بشپړه نه ده ، په دې مانا ، چې د ټولو آوازونو لپاره توري نه لري ، آوازونه ډېر ، خو توري لږ دي .

زور او زورکی په يوه توري يا نښه ښوول کيږي ، لکه د ( تره او تره ) په کلمو کې . کله بيا له سره نښه نه لري ، لکه ( زور) د ( لو ، پلو او کنډو ) په کلمو کې ، که څه هم ( زور ) په وروستيو کلمو کې د غبرګبړ يوه برخه ده . خو نښه يا توری ورته په کار دی او يواځې ( و ) د دې نيمګړتيا بشړتيا نه ده . د دې ترخنګ ( زورکی ) هم له همدې نيمګړتيا سره مخ دی ، لکه د

( کټو ) په کلمه کې چې يې ځرک نشته . د اوږد (o) ، لنډ (u) او نيمواک ( w ) ( واو ) لپاره هم يوه نښه (و) لرو ، لکه اوږد (و) د پښتو ، زانګو او پيشو په کلمو کې ، لنډ (و) د مندانو ، کدو او منتو په کلمو کې او نيمواک (و) چې د غبرګغږ يوه برخه ده ، د ( پړاو او کړاو ) په کلمو کې ، ټول جلا آوازونه دي ، خو په يوه توري او ګرافيم ( و ) ښودل کيږي ( ۴ ) .

غبرګغږ ( Diphthong ) چې دوه يا ترکيبي آوازونه دي . زموږ اوسنۍ ابېڅې دا ورتيا نه لري ، چې ټول يې وښيي ، يو غبرګغږ په ساده يا يوه نښه او توري کې ځرګنديږي ، لکه د (ay) غبرګغږ ، چې په پښتو ابېڅې کې يواځې په ( ی ) انځوريږي . همدا ستونزه په زورکۍ واله (ۍ) کې هم شته ، خو بيا هم ( لکۍ ) څه ناڅه د دويم آواز ښکارندويي کوي . د ليک بنسټ ( توري او ابېڅې ) کې نيمګړتياوې ، موږ ته ځرګندوي ، چې له دې تورو رغېدلی ليکدود هم بشپړ نه دی .

د اوسنۍ ابېڅې د ټاکنې پروخت د يوې کلمې په پيل - منځ او پای کې د توري کارونې يا کښنګ ته سم پام شوی نه دی . ځينې توري د کلمې په يوه برخه کې سم ليکل کيږي ، خو په بله برخه کې بيا نيمګړې او يا د ليکلو هېڅ شونتيا نه لري ، لکه نرينه يا مفرده ( ی ، ay ) چې د کلمو په پای کې سمه ليکل کيږي ، خو په په منځ کې ليکل کېدای نه شي . د غيرت ، هيبت او پيره ( پوځې نومونه ) کلمو کې د ( غ ، هـ او پ ) نه وروسته آوازونه د (ی) آواز دی ، چې په وينګ کې شته ، خو ليک يې د ځرګندونې ورتيا نه لري ، په غږيزه ابېڅې کې ځرګندېدای شي . زموږ په ابېڅې کې يې چاره داسې کولای شو ، چې وليکو : غی رت ، هی بت او پی ره ، چې دا بيا د يوې واحدې مانا لپاره يوه کارېدونکې کلمه ډېره ټوټه ټوټه کوي او بله ستونزه زيږوي . په اوسني ليکدود کې د ( و ، ل ، ر ) د دريوو تورو په وسيله درې کلمې ( لور : دختر ، لور : داس او لور : رواداري او پيرزوينه ) ليکو . په داسې حال کې ، چې په وينګ کې يې ځرګند توپير شته ، په غږيزه ابېڅې کې يې توپير ښه ځرګنديږي .

وړاندې مو ووېل ، چې د کلمو په پيل - منځ او پای کې د پښتو تورو کښنګ توپير لري او بڼې يې بدليږي . ( ج ) په پيل او منځ کې يو ډول او په پای کې بل ډول ليکل کيږي . همداسې ( ش ) ، ( ص ) ، ( ض ) ، ( ي ) ، ( ي ) .... په دې ډول يوه ستونزه زور ( a ) ته ټاکل شوی توری يا نښه رامنځته کوي ، لکه په ( کامه وال او سيمه ييز ) کې ، چې کلمه يوځاينې ته نه پريږدي ، همدارنګه

زورکۍ واله ( ی ) هم د کلمو په منځ کې د يوځايني وړتيا نه لري ، لکه په ( ځوکۍ وال ) کې . که پورتنۍ کلمې او مورفيمونه هر يو د جلا شکل په توګه ويل کيږي ، بيا د ګړيدو په بهير کې مانيزه ګډوډي پيښوي . په دې مانا چې داسې انګېرل کيږي چې کواکې دلته واټن د بېلتون په مانا دی . په ځانګړې توګه هغوی ته ، چې نوې ژبه زده کوي .

په لاتيني ليکدود کې هر توری جلا ليکل کيږي او يو له بل سره د يوځايني وړتيا نه لري ، ساده کلمې ، خو هسې هم يوځای ليکل کيږي ، بلکې مرکبې هم يو ځای کيږي او د يوې مانا لپاره يوه بڼه او جوله خپلوي . د دې ترڅنګ د کلمو ترمنځ مالوم واټن ( Space ) د ويونکي کار اسانوي او د ليک له مخې د وينا په بهير کې له ډېرو ستونزو سره نه مخېږي. پروړاندې يې په عربي بنسټ ولاړ پښتو ليکدود دا ښېګڼې نه لري . که چېرته يوه مرکبه کلمه په بشپړه توګه يوځای ليکل کېدای شوای او ټولو پښتو تورو له يو بل سره د تړون او يوځايني وړتيا درلودای ، لږ به مو ستونزې لږې شوې وای . يا داسې ، چې د لاتيني په څېر يې هېڅ د ګډون او تړون وړتيا نه لرلای او د کلمو ترمنځ يې بېلتون هم د لاتين په څېر په مالوم واټن سره کېدای شوای . که په لاتيني بنسټ ولاړ د انګرېزي ژبې ليکدود په پام کې نيسو ، دا هم له ستونزو خالي نه دی ، خو پورتنۍ ښېګڼې لري ، بياهم د وينګ ستونزه بشپړولای نه شي .

دا خبره تل ويل کيږي او اورېدل کيږي ، چې توری يا ګرافيم د يوې ژبې د يوه آواز يا آوازونو ښکارندويي کوي ، خو شونې نه ده ، چې د يوه توري انځور ته په کتو او پام سره د هغه آواز زده کړو ، اړ يو آواز واورو او د غوږونو له لارې يې زده کړو نه د سترګو ، د سترګو په وسيله يې يواځې انځور اخلو . دا خبره د توري او آواز او يا وينا او ليک ترمنځ اړيکی هم زيانمنوي او دا پوښتنه رامخته کوي چې د توري او آواز او يا وينا او ليک ترمنځ اړيکه څه ډول ده ؟ داچې وايو ، توری د آواز استازی يا د آواز ليدوړ انځور دی دلته دا پېژند تر پوښتنې لاندې نه راځي ؟ خو دا موضوع يو څه پېچلې ، رواني او طبي ده ، بل ځای به پرې وګړېږو .

د ( Orthography ) نه موخه په يوه ژبه کې د کلمو کره او سم کښنګ دی ، چې په دې برخه کې پښتو له ځينو نيمګړتياوو او کږکېچونو سره مخ ده . د دې لپاره ښايي لومړی له تاريخي پلوه د پښتو آوازونو او کلمو تشخيص او څېړنه وشي ، چې د پښتو ژبې ټول آوازونه او کلمې څرګندې شي ، چې

کومې يې پښتو دې او کومې يې له نورو ژبو پښتو ته راننوتې دي ؟ خپلې کلمې څنګه وليکو او پردې څنګه وليکو ؟

د ځينو پوهانو له نظره ليک ښايي هاغسې وشي ، چې ويل کيږي ، په دې مانا ، چې د ليک او وينا ترمنځ توپير لږ او پای شي ، که څه هم ستونزمنه ده ، ځکه چې ليک د وينا ټولې ځانګړنې په بشپړه توګه ، خوندي کولای نه شي ، لکه خج ، تون ، آهنګ او زيروبمي . بله خبره دا ده ، چې په هره ژبه کې بېلابېل ګړدودونه شته ، که د ژبې په هر ګړدود ګړېدونکی دا کار وکړي ، نو بيا بل کړکېچ پېښوي ، دلته دا خبره مهمه ده ، چې لومړی ښايي په يوه ژبه کې يو ګړدود رامنځته شي .

د ( چې څنګه وايو ، هاغسې ليکو ) نظر ته په پام ، په پښتو کې د پښتنو د خپل آر بيولوژيکي او طبيعي جوړښت له مخې ښايي د هغو تورو کښنګ له ليکه وغورځول شي ، چې په غرېز سيستم کې يې نشته ، لکه ( ف ، ع او نور عربي آوازونه ). خو د دې کار ستونزه به داوي ، چې پښتانه خپل ديني کتاب ( قرانکريم ) هم خپل آر غرېز سيستم ته واړوي ، چې دا بيا مانيز کړکيچ پيښوي ، خو دا هم بايد هيره نه کړو ، چې عادي يا نالوستي پښتانه اوس هم عربي آوازونه ويلای نه شي . دلته دا پوښتنه راولاړيږي چې د جولې ( ليک ، توري ، وينګ ) بدلون مانيز توپير پېښولای شي او که يه ؟ که دا موضوع په ځينو هغو کلمو کې په نظر کې ونيسو چې له نورو ژبو پښتو ته راننوتي ، ګورو چې جوليز بدلون پېښ شوی ،خو مانا پرځای ده ، لکه : معصوم چې ماشوم شوی دی . همداسې نور ډير پوروېونه چې جوليز بدلون يې منلی ، خو مانا يې پرځای ده . که دا لړی تولېزه شي او ټول پورويونه د همدې فورمول په اډانه کې وکښل شي څه ستونزه ده ؟

غوره خبره هم همدا ده ، چې ليک هاغسې وي ، چې ويل کيږي . ليک بايد له يوې خوا مانا خوندي کړي او له بلې خوا وينګ او تلفظ . که موږ په وينا او طبيعي غرېز جوړښت کې ځينې آوازونه نه لرو او په ليک کې يې ولرو ، داڅه مانا ؟ که موږ ( عربي ) کلمه ( اربي ) وايو او په ليک کې (عربي ) ليکو ، پښتو ژبې ته يې ګټه څه ده ؟ راتلونکو څېړنو ته څومره ګټه او څومره زيان لري ؟ دلته د عربي ژبې حق خوندي کيږي ، خو پښتو نيمګړې کيږي . د پښتو او عربي غرېز توپير څه شو ؟ که ټولنه د ( عربي ) پرځای په ( اربي ) ترون وکړي ، هاغسې چې دود دی ، څوک زيانمنيږي ؟ که پخوا د دې طبيعي لړۍ مخالفت نه کېده ، اوس ولی کيږي ؟ همدا د (عربي) کلمې ترونی بڼه په انګريزي

کې ( Arabic ) چې وينگ يې د ( عربي ) په ځبر نه بلکې ( اربېک ) دی ، خو هيڅ انگريز مسلمان د دې موضوع پر خلاف راپانځېد .
ځينې پوهان په دې ټينگار کوي ، چې پښتو ته هره راننوتې کلمه په ځانگړې توگه عربي ښايي د هغې د آوازونو په خونديينې سره وليکل شي ، لکه ( مانا ) بايد ( معنی ) وليکل شي ، که څه هم پښتانه يې ( مانا ) وايي ، خو ماته دا له طبيعت سره جگړه ښکاري ؟ دا مانا چې وايي به يو څه خو ليکې به بل څه . دلته بيا دا خبره چې توری يا ليک د آواز يا وينا ښکارندوی دی ، بې مانا کيږي .
ژبه يوه ټولنيزه ښکارنده ده او ټولې ټولنيزې ښکارندې د وخت په تيرېدو سره بدلون مومي ، د ژبې په وينگ او ليک دواړو کې بدلون راځي ، پښتو وينا او ليک هم همداسې درواخله . کېدای شي ځينو ناپښتو آوازونو اوس زموږ په غږيز جوړښت کې ځای نيولی وي ، که هغه په ليک کې هم رااخلو ، ستونزه نشته ، خو که ځای ونه لري اوبيا هم يواځې په ليک کې کنبل کېږي ، ستونزه ده .
د پښتو ليک د سمون لپاره گڼې غونډې شوي ، بېلابېل اثار کښل شوي ، پرمختگونه شوي ، خو ستونزې لا پاي شوې نه دي او لا هم يوه کره ليکلار او ليکدود نه لرو . په دې برخه کې ، د پښتونخوا ليکدودي ستونزې ، خو لا پرېړده ، چې د سياسي - فرهنگي لاملونو له مخې د اردو تر اغېز لاندې رامنځته شوي دي .
ټولو ته څرگنده ده ، چې پښتو ژبه يو ځانگړی غږيز جوړښت لري ، خپل آوازونه لري ، چې کېدای شي ځينې يې له نورو ژبو سره ورته ، خو ځينې يې جلا او توپير لري . د پښتو ژبې طبيعي غږيز سيستم اوجوړښت ته په کتو ښايي د ليک او ليکلار موضوع هم وڅېړل شي . د بلې ژبې کلمه بايد د پښتو غږيز سيستم تابع شي . که موږ د ليکلار په برخه کې نورې ژبې په نظر کې ونيسو ، گورو ، چې هلته د پښتو په څير ډېر کړکېچونه نشته ، د ژبې خپل غږيز سيستم او آوازونه څرگند دي ، د هغې په اډانه کې هغه څه ليکي ، چې يې وايي .
عربي ژبې ته تلونکې ټولې ناعربي کلمې ، هغه ژبه خپل غږيز سيستم ته تابع کوي ، پاکستان په باکستان اړوي او لوگر په لوجر يا لوغر اړوي . عربانو په همدې ترون کړی ، هېڅوک دا نه وايي ، چې د کلمې آره بڼه ( پاکستان يا لوگر ) دی .

انگریزي هم همدا کار کوي او د نورو ژبو کلمې خپل غږیز سیستم ته اړوي . د ( ځ ، ذ ، ظ ، ض ، ز ) لپاره ( z ) لیکي د ( څ ، س ، ث ، ص ) لپاره ( s ) لیکي او دا خپل طبیعي حق بولي . تردې ، چې سپیڅلي نومونه هم اړوي ، عربي عبدالله په ( Abdullah ) اړوي ، چې د انگریزي (A) د عربي له ( ع ) سره اندېول نه دی او مانیز ټکر پېښوي ، انگریزان یې هم همداسې وایي . خو دلته بیا هېڅکله د مانیز ټکر خبره نه کېږي ، خو که پښتانه یې (ابدالله) وایي او لیکي بیا د (گناه) خبره کیږي ، چې الله (ج) د پښتون په طبیعت کې عربي آوازونه اچولي نه دی ، بیا یې گرم ولې کړي ؟ که داسې وي ، بیا هغه ټول ملتونه او ژبې ، چې عربي آوازونه نه لري ، په گناهونو کې ډوب دي ؟ زه فکر کوم لوستي پښتانه یا نور وگړي ، چې عربي سره سر و کار لري ، د عربي له آوازونو سره څه نا څه روږدي دي ، کولای شي عربي آوازونه ووایي ، خو نالوستي بیا دا کار کولای نه شي او هره کلمه په خپل آر غږیز جوړښت او سیستم کې ورغورځوي ، هغه سیستم ، چې طبیعي او له نورو اغېزمن شوی نه دی . همدوی دي ، چې فکر ته (پکر) او فرهاد ته ( پرهاد ) وایي او دا د دوي حق دی ، څوک یې پرې گرمولی نه شي . هغه حق ، چې د نړۍ د نورو ژبو ویونکي یې ځانته ورکوي . دوی دا کار په شعوري او قصدي توگه نه کوي ، بلکې دا کار په طبیعي توگه کېږي ، گناه هم پکې نشته . د دې لپاره چې زموږ سپېڅلی دیني کتاب ( قرانکریم ) عربي دی او ټول مسلمانان مکلف دي د یاد کتاب د لوستنې لپاره عربي د سم او بشپړ وینگ سره زده کړي ، دا کار یوه اورده لړۍ ده ، چې نه یواځې پښتانه ، بلکې د نړۍ ټول مسلمانان ، چې ژبې یې له عربي سره غږیز توپیر لري ، د دې کړاو سره مخ دي . په دې برخه کې کړکېچونه او پوښتنې ډېرې دي ، چې ځوابول یې د اسلامپوهانو کار دی ، خو بیاهم هغه څه ، چې څرگند دي ، دادي ، چې هره ژبه چې مسلمانان پرې گړېږي له عربي سره ورته چلند ترسره کوي ، که عربي پردۍ کلمې د خپل غږیز جوړښت تابع گرځوي ، هغوی هم عربي کلمې د خپل سیستم تابع گرځوي . د دې ستونزې حل دا دی چې هر مسلمان باید د اسلام لپاره د عربي ژبې آوارونه هم راخپل کړي چې تر اوسه دا کار شوی نه دی .

د پښتو ژبې د تورو او ابېڅې په برخه کې یو وړاندیز دادی ، چې اوسنۍ عربي آره پښتو ابېڅې غږیزې ( فونمیک ) ته واړول شي ، چې د ټولو پښتو آوازونو لپاره توري او گرافیمونه لري ، خو د دې

پر وړاندې هم خندونه شته ، ویل کیږي چې لرغوني او اوسني پښتو او اسلامي متونه به له لوست وغورځي ، خو که داسې وي ، ډیر ملتونه شته ، چې د هغوی د دیني یا لرغونو متونو لیک د هغوی له اوسني لیک سره توپیر لري ، هغوی له کومو گواښونو سره مخ دي ؟ هغوی له دې امله خپل دین پرې ایښی دی ؟ او یا هغوی د لرغونو متونو څخه اخیستنه کولای نه شي ؟ خو دا خبره هم ډیره د منلو نه ده ، که داسې وای ، نن به په نړۍ کې یو شمېر دینونه له منځه تللي وو ، لکه ( یهودیت او عیسایت ) او نور، چې لرغوني کتابونه یې په اوسني لیک او تر دې ، چې پر ژبه نه دي .
پر همدې موضوع خان عبدالصمدخان اڅکزي او محمدگل خان مومند هم بحثونه کړي چې درانه لوستونکي یې د دوی په اثارو کې لوستی شي .

**وړاندیزونه :**

د پښتو اوسني لیک . لیکدود ، لیکلار ، تورو او ابېڅې د نیمگړتیاوو د سمون لپاره لاندې وړاندیزونه گټور بولم :

۱ - څرنگه چې روښانه ده پښتو توري د آوازونو په پرتله لږ دی ، باید د پښتو آوازونو اندول توري رامنځته شي . دا کار که په همدې عربي آر ولاړه ابیڅې او تورو کې کیږي ، ښه خبره ده ، که نه تېوله سیستم باید لاتیني ( فونیمیک ) شي . د همدې ستونزې په بشپړېدو سره به د بېلابېلو آوازونو لپاره د یوې نښې یا توري کاروني ستونزه هم بشپړه شي .

۲ ـ پردې فکر وشي چې د تورو بڼې باید داسې وي چې د کلمې په هره برخه کې ځان څرگند او د نورو کلمو سره د یوځاینې او ترون وړتیا ولري .

۳ ـ د تورو د نومونې په برخه کې هم پام په کار دی ، هر توری باید داسې ونوموو چې له بل سره روښانه توپیر ولري ، لکه اوس چې وایو څلورگونې یاگانې ، داچې ( ی ، ي ، ې ، ی ) جلا آوازونه دي . جلا نومونه هم ورته په کار دي . همداسې ( و ) او ( الف ) په برخه کې چې وایو ( اوږد ، لنډ او نیمواک ) . د ( اوږد ، لنډ ، نیمواک ، نرینه ، څرکنده ، مجهوله . ښځینه ... ) ستاینومونه ستونزه نه حلوي . که د تورو په آوازونو کې نږدېوالی او ورته والی وی ، نومونه یې هم باید همداسې جوړشي

. لکه په انګريزي کې که وګورو ( w , v, u , ۰ ) چې د زبېرد له مخې راته نږدې ښکاري ، نومونه يې لږ سره نږدې خو په ټوله کې جلا ( وو ، يو ، وي او ډبليو ) دي .

**پايله** : هره ژبه ځانګړې غږيوهيز جوړښت لري ، که له ځينو همرېښنه ژبو سره ګډې خواوې لري ، توپيرونه هم لري ، ځکه که دا نه وي د جلا ژبې نوم ورکول بيا بې مانا دي . په هره ژبه کې کارېدونکې کلمې د هماغې ژبې په غږيز جوړښت کې دننه ويل کيږي او ليکل کيږي . پورويونه يواځې خپله مانا ساتلی شي ، خو بڼه يې د دويمې ژبې د غږيز جوړښت تابع ګرځي . کله داسې هم کيږي چې بڼه يې خپله خو مانا يې واوړي ، کله هم پکې جوليز او مانيز بدلون دواړه پېښېدای شي . دا د ژبو ځانګړنه ده . شونې نه ده ، چې يوې ژبې ته راننوتې کلمې دې د هغې له ټولو غږيزو ځانګړنو او آوازونو سره راولېږديږي . يواځې هغه وخت کېدای شي ، چې د لومړنۍ ژبې ټول آوازونه په ورته ځانګړنو سره په دويمه ژبه کې هم شتون ولري .
په ليکنه کې د يادو شويو نيمګړتياوو له مخې د پښتو اوسنۍ توري ، ابېڅې او ليکدود ځينې نيمګړتياوې لري دي چې آوازونه او وينا په بشپړه توګه په ځان کې رانغښتی نه شي .

**اخځونه :**


۱ - زيار ، مجاوراحمد . پښتوليکلاربسود ( يوه پښتو- کره پښتو) . پېښور . دانش خپرندويه ټولنه . ۱۳۸٦ ش .

۲ - زيار ، مجاوراحمد . پښتوپښويه . پېښور . دانش خپرندويه ټولنه . ۱۳۸۲ ش .

۳ - يون ، محمد اسماعيل . پښتو ليکنی سمون . کابل . يون کولتوري يون . ۱۳۸۷ ش .

۴ - د ماسترۍ دورې لپاره ، د پوهاند محمدصابر خيشکي چپترنوټ .

٥ - Oxford Advanced Learner's Dictionary (٧th edition), Oxford, Oxford University Press, ٢٠١٠.

## د غږ زېږيز څرنګوالی

پوهندوی شاه محمود کډوال
د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی ، لغمان پوهنتون

**لنډيز :** غږ چې يوخوا د فزيک د پوهې يو توکی دی ، بلخوا د ژبپوهنې د ( غږپوهنې ) هم دی . د غږ زېږ په ازاد چاپېريال کې خپله لړۍ او څرنګوالی لري . د غږ زېږ په ازاد چاپېريال او انساني بدن کې د زېږ ورته لړۍ ده ، يواځې په ازاد چاپېريال او انساني بدن کې د غږ زېږ رامنځته کوونکي توکي او چاپېريال توپير لري .

**سريزه :** موږ په دې اړه اسانه پوهېدای شو چې غږ ( Phone ) په ازاد چاپېريال کې څه ډول رامنځته کېږي ؛ دا راته د فزيک پوهه راسپړي . خو همدغه غږ چې څرنګه د انساني غړو په وسيله رامنځته کېږي ، دا موضوع لږه سپړنه غواړي چې پوه شو ، د کوم بهير په ترڅ کې غږ زېږي او بيا د يوه سترې لړۍ يا پوهې ( ژبپوهنې ) بنسټ ګرځي .

**موخې :** د ژبپوهنې بېلابېلې څانګې او برخې د ادبياتو په پوهنځيو کې تدريسېږي . په هغو کې يوه غږپوهنه ( Phonology ) ده چې پر غږونو راچورلي . دا ليکنه د دغې برخې مرستندوی توکي دي چې د دې برخې څېړونکو او ښوونکو ته ګټوره ده . همدارنګه د دې ليکنې بله موخه د څېړونکي او ليکوال د پوهنيزې دندې او پازې ترساوی دی .

**مواد او کړنلار :** د دې ليکنې لپاره د بېلابېلو ژبو له باوري سرچينو ګټنه شوې ده . د څېړنې لپاره لابراتواري يا عيني ، ويډيويي توکي ليدل شوي دي .

غږ د ژبې بنسټ دی چې وييونه او مورفيمونه جوړوي . مورفيمونه بيا ترکيبونه او جملې جوړوي او جملې بيا وينا او ژبه چې په دې ډول د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې وسيله ګرځي .

غږ ساينسي پديده ده چې د فزيک پوهه پرې بحثونه کوي . په دې اړه لاندې بحثونه ګورو :

غږ د هوا د مالیکولونو له رېږدېدلو څخه ترلاسه کېږي . رېږدېدل په دې معنا چې د هوا مالیکولونه له خپل ځایه پر څرګند مسیر وخوځیږي او بېرته خپل لومړني ځای ته راوګرځي . دې فزیکي پدیدې ته په اصطلاح کې د رېږدېدو یوه دوره ، څرخ ( Cycle ) وايي . د دې لپاره چې د یوې غږیزې څپې د رامنځته کېدو یو انځور وکاږو ، یو پاندول ( Pendulum ) په پام کې نیسو . که پاندول یو لوري ته راکاږو او بیا یې پرېږدو ، د بل یا مقابل لوري تر پایه په چټکتیا سره ځي او بېرته په هماغه لاره خپل لومړني ځای ته راځي . دا حرکتونه ډېرځل پېښېږي ، خو په هر ځل یې لاره لنډېږي ، تر هغې چې پاندول خپل لومړني حالت ته لاړ شي او ودرېږي . د پاندول درنه برخه په دې حرکت کې د هوا د مالیکولونو یوه لایه له ځان سره مخکې وړي . دا کار د دې لامل کېږي چې د پاندول د درنې برخې په یو لوري کې د مالیکولونو رقت ، نریوالی ( Rarefaction ) او په بل لوري یې ګڼه ګونه ، تراکم ( Compression ) رامنځته شي . رقت په دې معنا چې د مالیکولونو ترمنځ د واټن ډېرېدل او تراکم یعنې یو بل ته د مالیکولونو نږدې کېدل یا یو بل ته لنډېدل . که یوه لاستیکي ټوټه په دواړو لاسونو راکاږو ؛ اوږدېږي . لامل یې دا دی چې د لاستیک په منځنۍ برخه کې د مالیکولونو ترمنځ واټن ډېرېږي او د دوو لوریو سرونو ته را کاږل کېږي ، په پایله کې هلته د مالیکولونو ترمنځ واټن لږېږي یا لنډېږي . په دې توګه د لاستیک په منځ کې مالیکولي رقت او په دوو سرونو کې یې ګڼه ګونه رامنځته کېږي .

هوا هم همداسې ارتجاعي ځانګړتیا لري ، خو له لاستیک څو ځله ډېره . په هوا کې هر مالیکولي رقت او تراکم د نورو رقتونو او تراکمونو لامل ګرځي . په دې معنا ، کله چې د هوا د مالیکولونو یوه لایه مخکې ځغلي ، دا لایه په خپل وار بله لایه مخکې ځغلوي او خپله لومړني ځای ته ورګرځي . نوې لایه هم همدا کار کوي او دا کار همداسې څو ځله تکرارېږي ، تر هغې چې د مالیکولونو خوځنده انرژي پای ته ورسېږي . د مالیکولونو دا ځای پر ځای کېدل که په ثانیه کې تر ۱٦ ځلو ډېر تکرار شي ، د مالیکولونو خوځنده انرژي په غږیزه ( صوتي ) اوړي او غږ منځته راځي .

هر رقت او تراکم يو څرخ ( Cycle ) نومېږي او په ثانيه کې د سيکلونو شمېر تواتر ( Frequency ) نومېږي . په دې توګه ، کله چې وايو د څپې فرکانس ۵۰۰ سيکله دی ، يعنې د هوا په ماليکولونو کې په يوه ثانيه کې ۵۰۰ ځله رقت او تراکم رامنځته شوی دی . څومره چې ډېرپېښې او تواتر ډېر وي ، غږ زير او هر څومره چې لږ وي ، غږ بم وي .

د هوا د ماليکولونو ځايبدل يا رېږدېدل هر لوري ته کېږي ، د ماليکولونو د هرې لايې واټن وهل ، د انرژۍ په مقدار پورې تړلی دی . په بله وينا ، څومره چې انرژي ډېره وي ، څپه ډېر واټن وهي . د هغه واټن اوږدوالی چې د هوا د ماليکولونو هرې طبقې وهلی رېږدلمن ( Amplitude ) نوموي . څومره چې دا واټن ډېر وي ، غږ لوړ وي . د غږ لوړوالی او زير و بمي کې توپير په کار دی . ځکه د غږ لوړوالی د انرژۍ په مقدار پورې او زير و بمي يې په ثانيه کې د رېږدېدا د دورې ( Cycle ) په شمېر پورې تړلی دی . ځکه نو کېدای شي يو غږ لوړ خو بم وي ، د دې پر وړاندې شونې ده يو غږ زير ، خو لنډ او ټيټ وي . که غږيزه څپه په خپله لاره کې په کوم جسم ، لکه د غوږ پرده ولګېږي او هغه هم د ځان په څېر ورېږدوي ، د غوږونو د پردې رېږدېدل د دننيو غوږونو د غږو له لارې د اوريدونکو اعصابو مرکزونو او په پايله کې د مغزو د کيڼې نيمې کرې اوريدنۍ برخې ته لېږديږي چې د اوربدنګ احساس او د پيغام درک ترلاسه کېږي . ( ۱ : ۳ - ٦ ) .

غږ د رېږدېدا ټولګه ده چې په جسم کې ښکاره کېږي او له هغه هوا ته لېږدېږي او خپرېږي . بيا د غوږ پردې ته رسېږي او اوربدل کېږي ( ٦ : ۴۹ ) .

پورته څرګندونې د دې لپاره وې چې غږ په تخنيکي ډول وپېژنو . له (ژبپوهنې) هاخوا يې په نورو پوهنو کې معلومات ترلاسه کړو . اوس راځو ژبپوهنې ( غږپوهنې ) ته او هغه غږ پېژنو چې د انساني بدن زېږنده ده او انساني ژبه رغوي .

داسې فرضوو چې موږ په يو چوپ يا ولاړ حالت کې يو او غواړو غږ توليد کړو ، نو دا کار څرنګه ترسره کېږي ؟

ځرنګه چې د انسان ټول خوځښتونه او حرکتونه د عصبي سيستم او مغزو له لارې کنټرولېږي ، نو پيل له هماغه ځايه کېږي . ماغزه د يو کار د ترسره کېدو امر کوي او د بدن غړي خوځېږي يا بل خوځښت رامنځته کېږي . هغه هوا چې له بهره يې د خولې او پزې له لارې تنفس کوو ، سږو ته ځي او بېرته راګرځي .

د ساايستنې مکانيزم د دې لامل کېږي چې هوا سږو ته له بهره ورننوځي او بيا بېرته رابهر شي . دغه دواړه بهنګه په تېره دويم دا په غږ زېږ کې پر کار ولېږي . ساييز غړي د غږ زېږ په هڅه د خوځند ځواک د زېږ لپاره داسې وړ مکانيزم رامنځته کوي چې د هغه په وسيله نور ګړهاري غړي پر خوځېدو راولي (۴ : ۴۳) .

له سږو راستنېدونکې هوا چې په غږ اوړي ، تر حنجرې ( چنغړک ) پورې په خپل حال وي ، په دې معنا چې يواځې هوا وي . کله چې حنجرې ته راورسېږي ، له همدې ځايه په غږ ( Phone ) اوړي . دلته هماغه لړۍ او چار ترسره کېږي چې غږزېږ يې په ازاد چاپيريال يا د انسان له بدن بهر ترسره کوي . په بله وينا ، که ځان په دې پوه کړو چې له سيتار ، ډول يا د شپوونځي له زنګ څنګه غږ پورته کېږي او په دې وسيلو کې غږ څه ډول جوړېږي ، نو د انسان په بدن ( چنغړک ) کې د غږ په زېږ هم ښه پوهېدای شو . ځکه غږ ټول يو ډول کيفيت لري ، يواځې ځای او چاپېريال يې توپير لري . د دې لپاره چې د انسان په بدن کې د غږ پر زېږ لا پوه شو ، د حنجرې برخه چې د غږ زېږ همدلته ترسره کېږي ، په لنډه توګه پېژنو .

په چنغړک کې دوه شونډو ته ورته او ډېرې نرمېدونکې پردې په پراته ډول ځای لري چې غږيز تارونه بلل کېږي . د غږيزو تارونو ترمنځ تشه ، ججوره يا کومې نوميږی (۲ : ۴۱) .

دلته د دې يادونه هم غوره ده چې ووايو ، له سږو راستنېدونکې هوا چې د حنجرې په برخه کې په غږ اوړي ، همدې ته ( phone ) وايي چې موږ يې پښتو کې ( غږ ) بولو . د دې ډول غږونو شمېر ښايي ډېر وي ، خو کله چې د همدې غږ کيفيت په زېږځې يا مخرج کې واوړي او يو داسې غږ ترې

جوړ شي چې هغه د ژبې د مورفيمونو په جوړښت کې ونډه او ارزښت لري ، بيا ورته ( Phoneme ) وايي چې پښتو کې يې ( اواز ) بولي . د غږ ( Phone ) اړوند بحثونه په ( Phonetic ) کې کېږي چې پښتو کې يې ( سېنپوهه ) بولي او د اواز ( Phoneme ) اړوند بحثونه په ( Phonemics ) کې کېږي چې پښتو کې يې ( اوازپوهه ) بولي . غږپوهه بيا د ( Phonology ) انډول ده چې دواړه برخې ( Phonetic او Phonemics ) رانغاړي .

له پورتني بحث څخه زموږ موخه دا وه چې هغه غږ چې په ژبه کې ستره او بنسټيزه ونډه لري په بنسټيزه او ژوره توګه وپېژنو . دلته په پای کې د غږ يو څو پېژندني رااخلو چې موخه تري اواز (Phoneme) دی .

اواز د ژبې د غږيز سيستم هغه کوچنی زنځيري ، ناشناند خپلواک واحد چې د معنا سره بالقوه تينګي اړيکي لري . د اواز (فونيم) دنده دا ده چې په ژبه کې د معناوال واحد غږيزې برخې توليدې کړي او هم کولای شي چې د ژبې واحدونه يو به بل سره جلا کړي ( ۵ : ۱۴۵ ) .

اواز يا فونيم ، د يوې ژبې تر ټولو کوچنی عنصر دی چې په خپله کومه ځانګړې معنا نه لري ، خو په معنا لرونکو کلمو کې د معنا توپير پېښوي ( ۷ : ۱۳ ) .

فونيم يا اواز د ژبې تر ټولو کوچنی غږيز عنصر دی چې په خپله کومه معنا نه لري ، بلکې په معناييزو کلمو کې معنوي توپير پېښوي ( ۳ : ۱۱ ) .

Phoneme: Any one of the set of smallest units of speech in a language that distinguish one word from another. (۱۱۳۳: ۸)

**پایله :** د پورتنۍ څېړنيزې ليکنې په لړ کې د غږ د زېږ په خرنګوالي وغږيدو او دا موضوع مو د فزيک د پوهې په مرسته روښانه کړه چې غږ څه ډول رامنځته کېږي . د دې ترڅنګ مو د يوه ژبني واحد په توګه غږ تر څېړنې او څېړنې لاندې ونيو چې دغه ژبنی واحد د انسان په بدن کې څه ډول رامنځته کېږي او په دې ډول د ژبې د معناوالو واحدونو په جوړښت کې ونډه اخلي .

**مناقشه :** د غړ زېږېز اړخ یوه کړکیچنه ساینسي او ازمېښتي لړۍ ده چې د دې سپیناوی تر ډېره ساینسي څېړنه او پلټنه ده . که څه په دې لیکنه کې له نورو اثارو گټنه شوې ده ، خو ازمېښتي او ساینسي بنه لري چې د اړوندې څانگې ( غږپوهنې ) لپاره غوره او په زړه پورې توکي دي .

**اخځونه :**


۱ ـ ثمره ، یدالله ( ۱۳۸۵ ) . اواشناسي زبان فارسي . ایران : مرکز نشر دانشگاهي .

۲ ـ حق شناس ، علی محمد ( ۱۳۸۲ ) . اواشناسي . ایران : مرکز انتشارات اگاه .

۳ ـ خوېشکی ، محمد صابر ( ۱۳۹۲ ) . پښتتو غږپوهنه او وییپوهنه . جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه .

۴ ـ زیار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴ ) . پښتو پښویه . پېښور : دانش خپرنددویه ټولنه .

۵ ـ لودین ، دولت محمد . (۱۳۹۵) . د عمومي ژبپوهنې مسایل . جلال اباد : ختیځ ادبي بهیر .

٦ ـ نجفي ، ابوالحسن . ( ۱۳۸۴ ) . مباني زبانشناسي . ایران : انتشارات نیلوفر .

۷ ـ هاشمي ، سید محی الدین . ( ۱۳۸۳ ) . د پښتو ژبې لنډ گرامر . پېښور : اریک د گرځنده کتابتونو اداره .

۸. Hornby A .S. Oxford Advanced Learner's Dictionary. ۷ ed. Oxford, Oxford University Press, ۲۰۱۰.

# د هندي سبک پیدایښت او پر پښتو ادب یې اغېز

پوهندوی شاه محمود کډوال

د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی ، لغمان پوهنتون

**لنډیز :** زموږ د سیمې شاعري بېلابېل سبکونه لري چې یو مشهور یې هندي دی . لکه له نوم یې چې څرګنده ده ، دا هندي سبک د اوسني هندوستان په څمکه د پارسي ژبو شاعرانو په وسیله رامنځته شوی ، پالل شوی او په دې ډول یې په نورو ژبو کې هم ځای موندلی چې یوه یې پښتو ده .

**سریزه** : هندي سبک د سیمې د ادبیاتو ، هنر او شعر جلا لار ده ، چې له نورو سبکونو سره جلا ځانګړنې لري . نوموړی سبک په نهمه هجري پیړۍ کې رامنځته شوی دی . یوه ډله فارسي ژبي شاعران چې د ټولنیزو او سیاسي بدلونونو په ترڅ کې هند ته کوچېدلي وو ، هلته د هندي مغلي دربار د پاموړ وګرځېدل او په شعر او شاعرۍ یې پیل وکړ . همدغه شاعري هندي سبک او بیا مکتب جوړوي . هندي سبک یواځې په هند او پارسي ژبې پورې تړلې پاتې نه شو ، نورو هیوادونو او ژبو ته هم ولېږدېده چې یوه یې پښتو ژبه او ادب دی .

**کلیدي نوموني :** سبک ، هندي سبک ، هندي مکتب

**موخې :** هندي سبک د پښتو ادبیاتو او شاعرۍ یوه مهمه برخه ده . د یاد سبک سپړل ، په دې اړه د معلوماتو ډېرول او اړوندو مینوالو ، لیوالو ، څېړونکو او محصلینو ته وړاندې کول . د دې ترڅنګ د لیکوال او څېړونکي لپاره د معنوي امتیاز ترلاسی .

**مواد او میتود :** د دې څېړنې لپاره له بېلابېلو باوري سرچینو ګټه اخیستل شوې چې برېښنایي هم پکې ګډون لري .

**د هندي سبک پیدایښت :** په پیل کې غوره خبره ده چې سبک وپیژنو :

سبک : عربي ویې دی چې معنا او مفهوم یې د سرو او سپینو زرو ویلې کول او کالب کې اچول دي . په ادبي اصطلاح سبک د یو شاعر یا لیکوال د وینا او لیکنې لارې ، اسلوب او روش ته وایي ( ٦ : ٨٣ ) .

هندي سبک په نهمه هجري پېړۍ کې په افغانستان ، هندوستان ، ماوراء النهر او ایران کې دود شو . په دې سبک کې د شعرونو مضمونونه دقیق شول ، د معناوو باریکۍ او شاعرانه تخیلاتو په ساده او معمولي کلمو کې دود وموند . همدارنګه په ادب کې کنایې ، پېچلې استعارې ، لغز او داسې نور راڅرګند شول ( ٩ : ١۴ ) .

هندي سبک د شعر ویلو یوه ځانګړې او جلا لار یا اډانه ده چې له نهمې هجري پېړۍ وروسته رامنځته شوې ده . د دې سبک د پیدایښت بېلابېل لاملونه ښیي :

هغه وخت چې صفویان واک ته ورسېدل ، دوديزو مدحیه شعرونو او شاعرانو خپل ارزښت له لاسه ورکړ ، دې ډول شعرونو او شاعرانو ته پام نه کېده ، ځکه نو یوه ډله شاعران آړ شول د هند ادبپال دربار ته مخه کړي او هلته په شعر او شاعرۍ بوخت شي .

د هندي سبک جوړښت په لاندې ټکو کې لنډولای شو :

- د ژبې له اصلي مرکز څخه لرېوالی .
- د غوره ټکو او مفهومونو د څرګندونې په موخه ، د ځواک ننداري ته لېوالتیا .
- د نوښت او شعري فنونو خوښونه .
- د هندي ژبې ، فرهنګ او چاپېریال اغېز .

د پورتنیو لاملونو په ترڅ کې داسې سبک منځته راغی چې هندي یې بولي . ځینې دا سبک اصفهاني هم بولي . دې سبک له نهمې تر دیارلسمې هجري پېړۍ پورې دوام وکړ .

www.fa.wikipedia.com

ځينې وخت انقلابونه او تولنيز بهيرونه د سبکونو د بدلون لامل ګرځي . د صفوي واکمنۍ په راتلو سره ، شيعه مذهب رسمي شو او صفوي واکمنو ورته ډير پام کوه . شعر هم مذهبي شو او پخوانيو ، عرفاني ، درباري او عشقي شعرونو ته پام نه کېده او د دې ډول شعر او شاعرانو ارزښت لږ شو ، شعر نور په يوې ځانګړې ډلې پورې تړلی پاتې نه شو او بېلابېلو وګړنيو ډلو شعرونو ته مخه کړه . د هندي سبک د زماني او مکاني حوزې د پراختيا له کبله ، په دې سبک کې ډولونه راښکاره شول ، چې د دې لامل شول ، د ايران او هند ميشتو شاعرانو ترمنځ توپير رامنځته شي . ځينې د دې دورې د ايران ميشتو شاعرانو دوديز سبک صفوي بولي او د هند ميشتو هندي .

په يوه بله ويشنه کې ، د دې دورې د شعر سبک صفوي نومول شوی چې په دوو څانګو يې ويشي . يوه څانګه يې ايرانی صفوي يا اصفهاني سبک او بله يې هندي . په هندي څانګه يا سبک کې ، هلته د فارسي ژبې نه لرغونتوب او د هغه ځای د فرهنګي چاپېريال له کبله د شعر ژبه پېچلې او تر ډېره ګرامري تيروتنې لري . که څه هم په ۱۲ مه هجري پيړۍ کې په ايران کې د هندي سبک پر وړاندې غبرګون وښوول شو ، خو په افغانستان ، تاجکستان او پاکستان کې يې اغيز تر وروستي وخته شتون درلود .

د هندي سبک په پيدايښت کې کيدای شي د مذهب ، هند ته د شاعرانو تګ ، اقتصادي سوکالي او له فرهنګ سره د صفوي شاهانو لېوالتيا ، لاملونه دخيل وګڼو . صفوي حکومت د مدحي ، درباري شعرونو سره جوړ نه وو او له دوديزو عرفاني توپيرونو سره په ټکر کې وو ، له دې امله شعر او شاعران له درباره ووتل او هر چا دا حق پيدا کړ چې شعر ووايي . د پخوانيو درباري شاعرانو مزدوري هم ودرېده ، ځکه نو دوی هند ته مخه کړه او د هندي چاپيريال تر اغيز لاندې يې شعر ويل پيل کړل . د خلکو اقتصادي سوکالي هم د دې لامل شوه چې ادب ، شعر و شاعرۍ ته مخه کړي او شعر د خلکو ترمنځ عام شي .

په هندي سبک کې شاعر آړ وو چې د غزل يا شعر لومړۍ مسره يې بايد نوی مضمون ولري . دا خبره د دې لامل شوه چې د نويو اړيکو د رامنځته کيدو لپاره د شاعرانو شونتياوې ورځ تر بلې محدودې شي او د پيښو د تړاو په موخه ژور يا لرې لاړ شي ، په دې توګه په تعقيد او اغراق کې کښېوتل او په شعر کې ابهام رامنځته شو .

د هندي سبک ځانګړنې په دريو برخو کې څېړلای شو :

۱ - ژبه : د بېلابېلو وګړنيو ډلو شعر ويل ، د دې لامل شول چې د کوڅې او بازار ژبه شعر ته لار پيدا کړي او د شعري ويېپانګې دايره پراخه شي او ډېر لرغوني ادبي لغتونه له دوده وغورځي .

۲ - فکر : هندي شعر په معنا او مضمون څرخي ، نه په شکل او صورت . د دې سبک شاعران معنا ته ډير پام کوي ، نه ژبې ته . هغوی د مضمون جوړونې په لټه کې ، د طبيعت او ذهن له هر څيز نه ګټه اخلي . د هندي سبک شاعرانو کار په هندي سبک کې د پخوانيو فلسفي ، عرفاني او غنايي مطلبونو ژباړه ده . په دې دوره کې د هندوانو د دودونو ، آدابو او مذهب اړوند فکرونه او لغتونه هم شعر ته راننوتل .

۳ - ادبيات : په هندي سبک کې بديع او بيان ته دومره پام نه کيږي ، که څه هم تشبېه د دې سبک بنسټ دی ، خو نورې بديعي او بياني ښکلاوې پکې نه ښکاري ، يواځې هغه دي چې په طبيعي او تصادفي توګه پکې راغلي دي.

www.pajoohe.com

هندي ادبي مکتب د وخت د ځانګړو عواملو تر اغېزې لاندې په خپل وخت کې په پارسي ، پښتو او اردو شعر کې نامتو هنرمندې شعري څېرې رامنځته کړې . په دغو شعري اثارو کې شعر د لوړ تخيل له سختې موشګافۍ سره يوځای شو او د شعر يو لړ ښکلې بابونه يې معراج ته ورسول . په پښتو

کلاسیکه شاعرۍ کې د هندي ادبي مکتب د نمونو د ځرکونو د لټون په لړ کې د وخت او چاپېریال مجموعي اغېز ته له یوخوا پاملرنه په کار ده او زموږ د هنرمندو شاعرانو په اثارو کې د وخت د پارسي شعر اغېز ته له بلخوا . دا د ولسونو او فرهنگونو ګډ میراثونه ، ګډ ویاړونه او ګډ شعرونه دي چې خلک ، پرګنې ، ولسونه او فرهنګونه لا سره نږدې او ( یو ) کوي ( ۱ : ۱۱۵ ) .

**هندي سبک او پښتو ادب :**

وړاندې مو ولوستل چې هندي سبک ، د هند پر ځمکه او جغرافیه کې د فارسي ژبو شاعرانو له خوا رامنځته شو او نورو سیمو ته ولیږدیده . پښتو ادب هم له دې سبک اغیزمن شو او ویل کیږي لومړی پښتون شاعر عبدالحمید مومند وو چې د دې سبک په اډانه کې یې شعرونه وویل .

د پښتو ادبیاتو ګرده محققین او پوهان په دې عقیده دي چې د هندي سبک اساسات په پښتو شاعرۍ کې تر هر چا د مخه عبدالحمید مومند ( ۱۱۴۸ هـ حدود ) رعایت کړي دي او زیار یې ایستلی دی . د دغه ادبي سبک له غوښتنو سره سم ، خو د اعتدال د حد په ساتلو سره یې خپله شاعري عیاره کړې ده . د دې سبک د ځینو ځانګړنو له خپلو سره سره حمید د خپل شعر جوله پښتنه وساتله او دا په دې معنا چې ده په دې برخه کې د اعتدال لاره غوره کړه او په متوسط ډول یې د هندي سبک اساسات خپل کړه . په پښتو شاعرانو کې چې چا په خپله شاعرۍ کې دا سبک د کمال تر حده پسې تعقیب کړ او د دې سبک کابو ګرده خصوصیات یې خپل کړل ، هغه کاظم خان شیدا دی ( ۸ : ۳۰۹ ) .

حمید بابا په قوم د باړې مومند او په مومندو کې خدریزی دی ، خو ژوند یې د دغه شعر :

که د ښکلو د درګاه ګدایي مومم

های توبه د محمدشاه له سلطنته

له مخې د محمدشاه رنګیلا تر دورې ( ۱۱۳۲ هـ ـ ۱۱۵۲ هـ ) یقیني دی . بیاهم په یقین سره نه شي ویل کېدای چې دا شعر حمیدبابا د محمدشاه رنګیلا د حکومت په کوم کال ویلی دی ،

خو که د دغه دور په لومړي کال يې ويلی وي ، نو د شاعر ژوند تر ۱۱۳۲ هـ کال ، بالکل يقيني دی ( ۴ : ۲۸۰ ) .

حميد پارسي ادب ولوست ، په ځانګړې توګه هندي سبک ته ډېر ځير شو چې د ده پر وخت ډېر دود او لوړتيا ته رسېدلی وو . ده د پارسي ادب په هندي سبک کې شعرونه وويل چې د شعرونو ځانګړنې يې د پارسي ادبياتو هندي سبک ته ډېرې نږدې دي او هغه ځانګړنې لري چې د پارسي ادب هندي سبک يې لري . دا لاره بيا نورو هم وڅارله او د حميد په لاره لاړل چې ( کاظم خان شيدا ، محمدي د مياعمر څمکني زوی ، ميرزاحنان ، حاجي عبدالله محزون ، کاظم خان ، کامګار ، ملا محمد اکرم او صمد ) ترې يادولای شو ( ۳ : ۱۰۱ ـ ۱۰۴ ) .

حميد ماشوخېل د پښتو ژبې داسې شاعر دی چې شعرونه يې په ځانګړې توګه د شکل د پوخوالي له کبله معمولا د پښتو ژبې د کلاسيکو شعرونو د نمونو په حيث راوړل کېږي . دی د پښتو ژبې يواځينی شاعر دی چې هم يې ډېر او هم يې ښه شعرونه ليکلي دي ( ۲ : ۸۵ ) .

که څه هم د حميد او شيدا تر پلويانو وروسته په پښتو کې د هندي سبک شاعري پيکه او يا هم بيخي په نشت حساب وو ، خو په معاصره دوره کې استاد محمد صديق پسرلي بېرته د دغه سبک په جسد کې نوې سا پو کړه او پر دغه سبک برابره شاعري يې وکړه .

په معاصره دوره کې د استاد پسرلي ترڅنګ ځينې نور شاعران هم شته چې شاعري يې تر ډېره بريده د هندي سبک له اغېزو برخمنه ده چې له دې جملې موږ د سيد جيلاني جيلان شاعري يادولای شو . د جلان په شاعرۍ کې د دغه سبک نښې نښانې څرګندې دي ( ۵ : ۱۴۵- ۱۴۶ ) .

سرمحقق سيد محی الدين هاشمي په پښتو ادب کې د هندي ادبي مکتب ځانګړنې داسې راښيي :

۱ - اوچت تخيل ، نازکخيالي ، نوښت ، نادرې تشبېه ګانې او استعارې د دې ادبي مکتب بنسټيزه ځانګړنه ده .

۲ - د دې ادبي مکتب پيروان غزل ويونکي دي او دغه ادبي ډول يا فورم يې کمال ته رسولی دی .
۳ - د شعرونو موضوع تر ډيره د مينې او محبت مسايلو ته وقف شوې او له سوز و سازه ډک دي .
۴ - سره له دې چې دا ادبي مکبت د هندي ادبی مکتب تر اغيزو لاندې رامنځته شوی ، پښتني ژوند او چاپېريال هم پکې پخپله بڼه انځور شوی ، استعارې او تشبېه ګانې يې هم په دغه خم کې رنګ شوي دي .
۵ - د خيال په نازکۍ او د معنا په باريکۍ سربېره ، په الفاظو او عبارتونو کې د سوز او ښکلا پيداکول ، د دې ادبي مکتب غوره ځانګړنه ده .
٦ - په شعرونو کې متلونه ، عامې محاورې او سيمه ييز اصطلاحات ډېر کارول شوي دي .
۷ - د فارسي ژبې او ادب اغيزه ، د دې مکتب پلويانو ډېره منلې ده .
۸ - حکايتي ادب له نورو ژبو ، په ځانګړې توګه له فارسي ژبې نه ژباړنو ډېر عموميت موندلی دی . ( ۲۸۰ : ۷ )

**پايله :** هندي سبک چې بيا يې د يوه مکتب بڼه غوره کړه ، په نهمه هجري پېړۍ کې پر هندوستان د پارسي ژبو شاعرانو له خوا رامنځته شو . دغه شاعران چې ويل کېږي د ناوره شرايطو له کبله له ايرانه هند ته کوچېدلي وو ، هلته يې د هندي فرهنګ اغيز ومانه او د شعر يو نوی کالب رامنځته شو .

د هندوستان هېواد د ګڼو او ګڼو ژبو او فرهنګونو کور دی ، هلته هر ډول ادبي اوښتون په نورو هم خپل اغيز درلود ، بيا پښتو چې له پارسي ژبې سره نږدې اړيکي لري ، له هندي سبکه اغېزمنه شوه . پارسي د هغه وخت داسې ژبه وه چې زموږ دسيمې ډېری فرهنګيان ترې اغېزمن وو او پرې پوهېدل . په دې توګه هندي سبک پښتو ته هم لار وموندله او د لومړي ځل لپاره عبدالحميد مومند په دې سبک کې شاعري وکړه او بيا همداسې نور هم ورننوتل .

**مناقشه :** د هندي سبک او مکتب په اړه په پښتو کې څېړنې شوې دي او د هندي سبک تابع پښتو شاعران هم په نښه شوي دي . دا چې هغه خورا اوږدې او پاشلې وې ، د دې لیکنې په ترڅ کې رالنډې او څرګندې شولې چې لوستونکی ژر موخې ته ورسوي .

**اخځونه :**


۱ ـ انځور ، زرین . ( ۱۳۹۴ ش ) . د زړو پاڼو تول . جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه .

۲ ـ جهاني ، عبدالباري . ( ۱۳۸۷ ش ) . د مشکو کاروان ( دریېم چاپ ) . کوټه : صحاف نشراتي موسسه .

۳ ـ حبیبي ، عبدالحی . ( ۱۳۹۰ ش ) . تاریخچه سبکهای اشعار پښتو . کندهار : علامه رشاد خپرندویه ټولنه .

۴ ـ خلیل ، همیش . ( ۲۰۰۸ م ) . د پښتو شعري ادب . پېښور : پښتو اکاډمي پېښور پوهنتون .

۵ ـ قریشي ، خاطره . ( ۱۳۹۴ ش ) . هندي سبک او پښتو شاعري . کابل : ملي تحریک .

٦ ـ هاشمي ، سید محی الدین . ( ۱۳۸۱ ش ) . ادبپوهنه . پېښور : د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره .

۷ ـ هاشمي ، سید محی الدین . ( ۱۳۹۳ ش ) . د ادبپوهنې څانګې . کابل : مېهن خپرندویه ټولنه .

۸ ـ هېوادمل ، زلمی . ( ۱۳۷۳ ش ) . په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه . لاهور : شرکت پرنټنګ پریس .

۹ ـ همکار ، محمد ابراهیم . ( ۱۳۹۲ ش ) . په پښتو منظوم هندي سبک کې د مجاز ډولونه . ننګرهار : ختیځ خپرندویه ټولنه .

## ژبنۍ سپما او اقتصاد

پوهندوی شاه محمود کډوال
د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی ، لغمان پوهنتون

**لنډیز :** ژبه او وینا هغه وګړنۍ فعالیت دی چې انرژي لګوي ، لګښت پرې راځي ، نو بویه چې د کارونې لپاره یې اقتصادي اړخ ته پام وشي. ژبنۍ لنډون او په لږو الفاظو او ویینو کې د ډېرې معنا لېږد ، د ژبنۍ سپما لامل ګرځي. که یوخوا د ژبې ژوندۍ بڼې ؛ ګړېدنګ او وینا کې د لنډون او سپما آر ته پام په کار دی ، بل خوا په مړه او لیکنۍ ژبه کې هم دې آر ته پام په کار دی چې ګټه وشي. ژبنۍ سپما او د الفاظو او ویینو پر ځای کارونه ویناوال ، لیکوال ، اورېدونکي او لوستونکي ته ګټه اړوي . وخت ، انرژي ، کار او فعالیت یې بېځایه نه لګېږي.
دا لیکنه په ژبه کې سپما او اقتصادي ارزښت څیړي ، ځکه دا د یوې ژبې د پرمختګ لپاره مهم دی . د دې لیکنې په ترڅ کې پر ژبنۍ سپما او اقتصاد د پوهېدنې په موخه ، عملي او تطبیقي بېلګې وړاندې شوې دي .
د پرمختللو ژبو د پرمختګ یو لامل همدا دی چې ویونکي او لیکوال یې سپما او اقتصادي اړخ ته پام کوي او د وروسته پاتیو ژبو هغه یې نه کوي . موږ په پښتو او نورو ژبو کې هم همدغه ستونزه لرو چې سپما ته ډېر پام نه کېږي . د دې څېړنې موخه د همدې ستونزې د هواري لپاره لار موندل دي .
سپما او اقتصاد د ژبې په پرمختګ کې هم هغومره ونډه لري ، لکه څومره یې چې د نورو ټولنیزو ښکارندو په پرمختګ کې لري. موږ که غواړو ، یو ارزښتمن څیز په ارزانه او وړ بیه ترلاسه کړو ، همداسې په کار ده ، په لنډه وینا او لیک کې وړ او ډېره معنا او مفهوم ولېږدوو . که څه هم په بشري ژوند کې اقتصادي پرمختګ پر ژبه هم اغېز کوي ، خو ښه دا ، له پرمختللیو ژبو نه دغه ځانګړنه واخلو او په خپله ژبه کې یې عملي او تطبیق کړو .
د دې څېړنې ډول کتابتوني او د څېړنې میتود یې تشریحي ـ توصیفي دی .

**سریزه :** د ژبې د پرمختګ لپاره یو مهم اړخ د هغې اقتصادي جوړښت او له ټولنیز پرمختیایي بهیر سره د هغې لاس په لاس کېدل دي. که څه هم ژبه د ټولنیز بدلون د قوانینو تابع ده ، په دې معنا ، کله چې د ژوند بېلابېل اړخونه پرمختګ او بدلون مومي ، ژبه هم ورسره پرمختګ او بدلون کوي ، خو بیاهم دا د لیکوالو او ژبپوهانو کار دی چې ژبنی بدلون او پرمختګ په یوه علمي لاره سم کړي. په اسانه او لنډه پوهېدنه کې ګټه او سپما ده ، خو دا ګټه په دې معنا نه ده چې ژبه دې داسې لنډه او تنګه شي چې معنا زیانمنه کړي . د معنا د لېږد لپاره وړ وییونه ، نښې او غونډلې کارول د ژبنی سپما غوښتنه ده .

**کلیدي نوموني :** ژبه ، وینا ، لیک ، سپما ، لنډون ، اقتصاد .

**ارزښت :** ژبنی سپما او د ژبې اقتصادي اړخ ته پام کول ، د اوسنی پرمختللې نړۍ او ژوند غوښتنه ده. اوس په ګړنی او لیکنی ژبه کې له داسې نښو او لنډون څخه کار اخیستل کېږي چې یوخوا سپما ته پام کېږي ، بل خوا پوهېدنه په وړ ډول ترسره کېږي . د دې ترڅنګ د داسې ژبو په زده کړه کې هم اسانتیا راځي چې پوهونه او راپوهونه یې لنډه وي.

**موخه :** موږ هم ژبه کاروو او په داسې ژبو غږېږو چې د نړۍ په ژوندیو ژبو کې شمېرل کېږي ، خو پرمختللې نه دي. له دې کبله په کار ده ، د نړۍ د پرمختللو ژبو د پرمختګ پر لاملونو ځان پوه کړو او له هغې کار واخلو چې زموږ ژبه هم پرمختګ وکړي . ژبنی سپما او د ژبې اقتصادي اړخ ته پام د دې لیکنې موخه ده .

**مواد او میتود :** د دې لیکنې او څېړنې لپاره له باوري سرچینو ګټنه شوې ده . په دې برخه کې له څېړونکي سره شته آثار کتل شوي چې لوستونکو ته غوره مواد چمتو شي . د دې څېړنې ډول کتابتوني او میتود یې تشریحي ـ توصیفي دی .

**پوښتنې :**

۱ ـ په ژبه کې سپما کوم ارزښت او ګټه لري ؟

۲ ـ په ژبه کې څنګه سپما وکړو ؟

د وګړو او بشري ټولنې له پیداېښت راهیسې دا فکر شته چې څرنګه د ژوند په ټولو اړخونو کې سپما وشي او داسې ژوند وکړي چې په هغه کې د ګټې او لګښت ترمنځ انډول وي. سپما او اقتصاد د

ژوند دومره مهم اړخ دی چې په الهي لاربنوونو کې هم ځای ورکړل شوی دی. الله ج په قران پاک کې مورږ ته داسې لاربنوونه کوي : "... کلوا واشربوا و لاتسرفوا... " ( قرانکريم ) .
ژباړه : وخورئ او وڅښئ ، خو اسراف مه کوئ !
په ژوند کې له سپما او اقتصاد نه موخه دا ده چې وګړي خپل لګښتونه داسې وکړي چې له ګټې يې ډېر نه وي او داسې هم نه چې له ډېرې ګټې سره لګښتونه هم ډېر شي. ډېره ګټه او لږ لګښتونه هغه هم ګټور ؛ ګټه ده . د دې موخه دا هم نه ده چې سړی دومره سپما وکړي چې شته شونتياوې او زيرمه د خپل ژوند د پايښت لپاره ونه کاروي.
ژبه د پوهونې هغه وسيله ده چې له سپما او اقتصاد سره اړخ لګوي. که د بېلابېلو وګړو ټولنيز پرمختيايي ژوند تر کتنې لاندې نيسو ، له اقتصادي پرمختګ سره يې ژبو هم ځان سم کړی او ژوند يې پايښت موندلی ، که نه له منځه تللې دي. که د ټولنو ادبي پنځونې وګورو ، پخوا رومان دود وو ، هغه وخت چې د وګړو د ژوند رنګ بدل وو ، بوختياوو يې له اوس سره توپير درلود ، ځکه نو ليکوال د رومان ليکلو لپاره وخت درلود او لوستونکي يې د لوستو لپاره. ادبي اثارو د ټولنيز ژوند له پرمختيايي بهير سره يوځای خپله بڼه او منځپانګه اړوله ، له اوږدو ليکنو وروسته ، يو څه را لنډې ادبي ليکنې رامنځته شوې ، لکه ناول او بيا لنډه کيسه او .... په دې ټولو اوښتنو او پرمختياوو کې اقتصاد او سپما خپله ونډه درلوده ، له وګړو سره د ګټې او زيان تر شا اقتصادي فکر وو .
د پوهې د پراختيا سره وګړي سوکه سوکه په دې هم پوهېدل چې په دماغي ، اروايي او ذهني فعاليتونو کې هم سپما وکړي او پر هغه څه فکر وکړي چې ګټه لري. تر ډېره په عمل باندې تمرکز وشو او له داسې فکرونو ډډه وشوه چې عملي بڼه ونه لري . په فکر او عمل دواړو کې بياهم د ګټې ، سپما ، زيان او په ټوله کې اقتصاد مهم اړخ وو.
ژبه او وينا د يوه مغزي او عصبي فعاليت زېږنده ده. په ژبه ، وينا او مغزي فعاليتونو هم د وګړو ځواک او انرژي لګېږي ، له مغزي فعاليت نه وروسته د سايېزو او غړيزو غړو فعاليت هم انرژي خوري ، له دې کبله د دې انرژۍ لګول ښايي ګټور وي. اوس چې ژبه او وينا انرژي لګوي ، ځکه نو د انرژۍ د لګښت ګټورتيا ته پام په کار دی ، همدا لامل دی چې په بشري تاريخ کې پوهو وګړو خبرې لږې ، خو ګټورې کړې دي. ډېرې او بې ګټې خبرې د ناپوهانو کار ګڼل شوی دی.

د هرې ژبې ويونکي په روږدي او طبيعي ډول د ګړېدنګ پر وخت سپما او اقتصاد ته پام کوي ، لکه يو پوښتي چې پلانی راغلی دی ؟ بل يواځې د ( هو ) په وسيله ځواب ورکوي او غونډله بيا نه وايي چې ( هو ، پلانی راغلی دی ) ، ځکه ځوابوونکی پوهېږي چې د ( هو ) په وسيله پوهونه ترسره کېږي ، نو ( پلانی راغلی دی ) ته اړتيا نه شته چې همدغې ته ژبنۍ سپما او اقتصاد وايو . په دې اړه بله بېلګه داهم کېدای شي چې يو وخت مو ( د کابل پوهنتون ) وايه او ليکه ، خو اوس ( کابل پوهنتون ) وايو او ليکو چې د تولوييکي ( د ) په غورځولو سره مو سپما کړې ده .

ليک چې د ژبې او وينا د لېږد او خونديتوب يوه وسيله ده ، که د ژبې په ژونديۍ ، وييزه او ګړنۍ بڼه کې يې ګټورتيا ته پام ونه شي او بې ګټې فکرونه د ليک له لارې خوندي شي ، نو يوخوا به په خپله د ليکوال فکري ـ بدني انرژي او ځواک بې ګټې لګېدلی وي ، بل خوا د اورېدونکي او لوستونکي . د ليک په ژبه کې د يوه توري يا ويي بې ګټې کارونګ ټولنيز او ځاني زيان رسولای شي. د بېلګې په توګه ، د ښوونځيو په يو کتاب کې يو بې ګټې ويی ، په لکونو او ميليونو شمېرل کېږي ، ځکه دا کتابونه لکونه او ميليونونه وي. همدې يو بې ګټې ويي ليکوال ، لوستونکي ، ښوونکي ، سمونګر ، تخنيکي کارکوونکو ، ماشينونو ، برېښنا ، کاغذ او ... په داسې بې ګټې کار بوخت کړل چې اقتصادي لګښت يې شته ، خو ګټه نه لري او زيان يې راواړوه.

د وخت ګټورتيا او ژبنۍ سپما ته د پام له کبله هر ځای د غونډو او ناستو په بهير کې له ويناوالو غوښتنه کېږي چې لنډې او ګټور وګړېږي ، نه ځان وکړوي او نه اورېدونکي. بياهم که ګټورې خبرې اوږدې وي ، باک يې نه شته ، وګړي او اورېدونکي يې د ګټې لپاره اوري.

په اوسني ژوند کې د ژبنۍ سپما او اقتصاد بېلګې ډېرې دي. که پرمختللې ژبې وګورو ، ډېر لنډېزونه يې د دې لپاره دي چې ژبنۍ سپما وکړي او وخت ، انرژي او ... بې ګټې نه شي. په انګريزي ژبه کې د دې پرځای چې ووايي او وليکي ( British Broadcasting Corporation ) چې يوخوا د لوستونکي او ويناوال ډېر ځواک او انرژي لګوي ، بل خوا د اورېدونکي ، همدارنګه د ليکوالۍ په بهير کې د قلم رنګ ، کاغذ ، د ټايپېست انرژي او وخت ، د کمپيوټر فعاليت ، برېښنا او ... به ډېر لګوي ، خو چې لنډ شي او ( B.B.C ) وويل او وليکل شي ، نو پوهونه ترسره کېږي او لګښت يې لږ دی (Hornby, ۲۰۱۰) .

ژبنی پرمختګ ، ښېګڼې ، لنډون او سپما د هغې د ويونکو په پرمختګ پورې تړلي دي. د انګريزانو او نورو پرمختلليو وګړو او ټولنو د ژوند پرمختګ د هغوی پر ژبو هم اغېز کړی دی. د وروسته پاتېو ټولنو او وګړو د ژوند شاتګ يې په ژبه کې هم ښکاري ، لکه موږ .
پوښتنه دا ده چې خنګه کولای شو ، لکه انګريزي په ګړنې او ليکنې پښتو ژبه کې لنډيزونه وکاروو چې ګټه وکړو ، لګښت مو را لږ او پوهونه بشپړه او سمه وشي ؟
که په ليک کې لنډيزونه کاروو ، ستونزه پکې نه ليدل کېږي ، که ستره محکمه ( س . م ) يا د لوړو زده کړو وزارت ( ل . ز . و ) وليکو ، ليکلای يې شو ، خو ويلو کې يې کړکيچ او ستونزه ده . معنا دا چې زموږ د تورو په نومونو کې ستونزه ده . موږ بايد د سترې محکمې لنډيز ( سين ، ميم ) ووايو او د لوړو زده کړو وزارت لنډيز ( لام ، زې ، واو ) .
که د انګريزی لنډيزونه په ژبه کې کاروو ، نو داسې ستونزه نه پېښوي ، لکه د پښتو ، دري او عربی ، ځکه هلته د تورو نومونه زموږ په څېر ستونزه نه لري . موږ افغان ملي اردو ( ا . م . ا ) بايد د وينا په بهير کې ( الف ، ميم ، الف ) ووايو چې وينا ټکنی کوي ، خو انګريزان چې A.N.A ( ای ، اين ، ای ) وايي ، وينا نه ټکنی کوي . د دې ستونزې حل به همدا وي چې موږ د تورو نومونه واړوو .
د ژبنی سپما او اقتصادي اړخ په اړه د ليکوالی نړدې ټولو آثارو په بېلابېلو بڼو د وينا او ليکنې لنډون د ليکنې ښېګڼه ګڼلې ده :"د ايجاز رعايت په دې معنا چې پراخ مفاهيم او معناوې په لږو الفاظو کې ځای پر ځای شي." ( جعفري ، ۱۳۸۵) .
موږ وړاندې وويل چې لومړی خو په ذهني او فکري فعاليت کې هم سپما او ګټورتيا ته پام په کار دی ، ځکه هلته هم ځواک لګېږي ، خو بياهم که ګټور مفاهيم او معنا ډېره او پراخه وه ، ليکوال ته بويه چې د ليکوالی په بهير کې خپل ذهني مواد سره وشاربي ، وشني او ګټور يې وليکي، په دې ډول به سپما او ګټه وشي. د دې پرځای چې وليکي (مينه او محبت) يواځې يو دې وټاکي ، هغه چې د ليک ژبه يې غوښتنه کوي چې ګړنې او ليکنې سپما وشي.
د ژبنی سپما په اړه مجاور احمد زيار ليکي :'' دا معنا چې تر وسې وسې او وروستني بريده په لږو وييونو کې ډېره معنا او مطلب ځای شي ، بې له دې چې ابهام او ګونګوالی پېښ شي ، يوه خبره چې په يوه جمله کې راتلای شي ، دوو ته بايد ونه رسېږي او يوه جمله چې له پنځو توکو څخه

جوړېدای شي ، په کار نه دي ، اتو یا لسو توکو ته ورسي . البته په ادبي او هنري ډګر کې د یوه مطلب څو څو رازه څرګندول له سپما څخه سرغړاوی نه ګڼل کېږي ، هغه هم په دې شرط چې نوې نوې معنوي او بدیعي رنګارنګۍ منځ ته راوړي ، د چا خبره تکرار حسن اوسي ، نه دا چې تشه لفاظي بېله ولري . له بده مرغه زموږ ډېر لیکوال د ډېر پخواني ختیز دود تر اغېز لاندې د هممانیزو وییو او جملو بیا بیا کارول د خپل لیکني سبک ستر توک ګڼي. سپما په کړاوړون ( فعلي ګردان ) کې هم ډېره پاموړ بلل کېږي او هغه دا چې له بېلابېلو ګړدودي څېلونو يې هماغه لنډه دا امرل کېږي ، لکه : د ( پوه شوم ) پر ځای ( وپوهېدم ) یا د ( ډوډۍ وخوړلې شوه ) پر ځای ( ډوډۍ وخوړل شوه ) . په وییغونډونو ، لکه : ( کابل پوهنتون ) ، ( د کابل پوهنتون ) ، ( کابل ښار ) ، ( د کابل ښار ) پر وړاندې . په نویزونو کې ، لکه : ( رسنۍ ) د ( خبري یا خپرندویه رسنۍ ) پر وړاندې" ( زیار ، ۱۳۸٦ ).

حضرت تهانوي (رح) د لیکنو د لنډون ، ګټورتیا ، سپما او اقتصادي اړخ ته په پام سره وايي :" ... بې له اړتیا هیڅکله خبره نه اوږدوم" ( همت ، ۱۳۸۵ ) .

د ژبنۍ سپما په اړه د (لیکوالۍ هنر) لیکوال یوځای د ښې لیکنې ځانګړتیاوو کې لیکي :" چې د مطالبو په بیان او افاده کې له لنډیز څخه کار واخیستل شي" ( هاشمي ، ۱۳۹۵ ) .

"ننني وګړي ډېر وخت نه لري ، لیکوال ته په کار دي چې د موضوع اړوند مطالب سره راټول او په موزونه بڼه يې لوستونکو ته وړاندې کړي. که چیرته موږ د موضوع اړوند بېځایه مقدمې او اضافي خبرې ځای پر ځای کړو ، نه یواځې دا چې خپل او د بل وخت به مو ضایع کړی وي ، بلکې اقتصادي زیان به مو هم ځان ته اړولی وي" ( همکار ، ۱۳۹۵ ) .

ګل پاچا الفت په (لیکوالي) آثر کې د ژبنۍ سپما په اړه لیکي :" ضبط څخه مقصد دا دی چې په کلام کې زیاتې او بې ضرورته برخې نه وي" ( الفت ، ۱۳۳۹ ) .

په همدې ډول نورو لیکوالو هم د ژبنۍ سپما په اړه څرګندونې کړې دي. محمد اقا شیرزاد لیکي :" د یوې موضوع په لیکلو کې باید اعتدال وساتل شي ، نه لیکنه دومره وغځېږي چې اضافي خبرو ته لار پرانیستل شي او نه دومره لنډه شي چې مطلب پکې ورک شي" ( شېرزاد ، ۱۳۹۵ ) .

په لیک کې د سپما لپاره یوه غوره لار د لیکنښو رامنځته کول او د هغوی پر ځای کارونګ دی . لیکنښې د لیکنې په بهیر کې ډېره اسانتیا او سپما رامنځته کوي. د بېلګې په توګه لوربښود نښه ( --> ) چې د یوه ویې یا نوم تدریجي په لاس راتلو لپاره کارېږي ، لکه لمپاکا --> لمګان --> لمغان --> لغمان ( افغان ، ۱۳۹۵ ) .

لوربښود نښه بیا بل ځای داسې اسانتیا او سپما رامنځته کوي ، لکه د یوه متن په منځ کې د یوه ویي یا وییغونډ ترځنګ داسې راشي( --> ) موخه یې دا ده چې دغه ویی یا وییغونډ د ځانګړې سرلیک لاندې په راتلونکې کې څېړل کېږي. که په دې بڼه ( <-- ) راشي ، موخه یې دا ده چې دا موضوع ، ویی یا وییغونډ مخکې څېړل شوی دی. که موږ دغسې نښې د لارښوونې لپاره وکاروو ، نو ګټوره اسانتیا او سپما مو رامنځته کړه او که د دې نښو پرځای د دې نښو موخه په ویینو لیکو ، نو ډېر ځای نیسي او اقتصادي زیان رااړوي.

**پایله :** د ژبې د پرمختګ لپاره سپما او اقتصاد بنسټیز اړخ دی . اقتصاد چې د اوسنۍ پرمختللې نړۍ ، ټولنې او وګړو لپاره څومره مهم دی ، د ژبې لپاره هم مهم دی. په دې معنا چې په ژبنې پوهاوي کې هم اقتصاد او سپما ته هاغسې پام په کار دی ، لکه د ژوند په نورو اړخونو کې چې کېږي. په طبیعي ډول دا چار د ژبې د ویونکو له لوري ترسره کېږي چې په ویینو او غونډلو کې لویدنې یې یوه بېلګه ده ، خو دغه موضوع یو پوهنیز ژبنی ارزښت دی چې څانګوال یې باید ځانګیز او د ژبنیو څېړنو او کارونګ برخه وګرځوي .

**مناقشه :** د ژبنی سپما او اقتصادي اړخ په اړه د لیکوالۍ او ګرامر بېلابېلو څېړونکو لیکنې کړې او ټول پر دې متفق دي چې ( په لږو کلمو او جملو کې ډېره معنا لېږدول د ښې لیکنې ځانګړنې دي ) . دا لیکنه په ځانګړې بڼه د یادو څېړنو تداوم دی چې نوې او دغې موضوع ته ځانګړې شوې ده .

**وړاندیزونه :** زموږ په ژوند کې سپما او اقتصاد دومره پرمختګ کړی نه دی ، ځکه نو په ګړنۍ او لیکنۍ ژبه کې هم دې اړخ ته ډېر پام نه کوو ، خو دا د ژبې د پرمختګ لپاره یو مهم اړخ دی چې پام غواړي . لیکوالو ته په کار ده چې د ژبې سپمایي او اقتصادي اړخ ته په پام ، په بېلابېلو علومو کې داسې لیکنۍ بیلګې وړاندې کړي چې نور ترې ګټه واخلي او هغه په خپلو لیکنو کې عملي کړي .

**اخځونه :**

١ ـ قرانکریم ، ٨ پاره ، سوره الاعراف ، ٣١ ایات . پېښور : تاج کمپني. ٢١٣ مخ
٢ ـ افغان ، شازیه . (١٣٩٥ش) . څېړنه . کابل : انتشارات نویسا. ١١٩ مخ
٣ ـ الفت ، گل پاچا . (١٣٣٩ش) . لیکوالي . کابل : پښتو ټولنه . ٣٨ مخ
۴ ـ جعفري ، محمود . (١٣٨۵ش) . راهنمای نویسندگی . کابل : بنگاه انتشارات میوند . ص ۴٢
۵ ـ زیار ، مجاوراحمد . ( ١٣٨٦ ل ) . لیکلاربشود ( یوه پښتو ـ کره پښتو ) ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه . ٢٠ مخ
٦ ـ شېرزاد ، محمد آقا . ( ١٣٩۵ش) . لیکوالي . کابل : جهان دانش خپرندویه ټولنه . ١٧٧ مخ
٧ ـ هاشمي ، محی الدین . (١٣٩۵ش) . د لیکوالۍ هنر . ننگرهار : میهن خپرندویه ټولنه . ٨ مخ
٨ ـ همت ، عبدالمالک . (١٣٨۵ش) . د مقالې لیکلو اصول او د مطالعې او څېړنې لاربشود (ژباړه او راټولونه ) . کوټه : صحاف نشراتي موسسه . ٢٠۵ مخ
٩ ـ همکار ، محمد ابراهیم . (١٣٩۵ش) . لیکوالي . ننگرهار : مومند خپرندویه ټولنه . ١٠٠ مخ
١٠ . Hornby, A .S. (٢٠١٠). Oxford Advanced Learner's Dictionary.( ٧ ed). Oxford: Oxford University Press. p ١١٧

# په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه

پوهندوی شاه محمود کډوال
لغمان پوهنتون ، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی

**لنډیز :** ژبه یو داسې غریز سیستم دی چې د وګړو د عصبي سیستم او مغزو تر کنترول لاندې فعالیت کوي. له شک پرته چې د وګړي ټول اروايي او بدني خوځښتونه او فعالیتونه د یوه واحد سیستم تابع دي چې ټول عصبي سیستم رغوي . په دې سیستم کې بیا بېلابېلې برخې ګډې دي ، لکه : مغزه ، شوکي نخاع او ... چې هره برخه یې خپله دنده لري او د بدن یو فعالیت کابو کوي . ژبه چې غږونه او غږغونډونه یې د یوې معنا او مفهوم لپاره د وګړو په بدن کې زېږي ، له عصبي سیستم او مغزو سره اړیکه لري او له هغه ځایه ورته لارښوونه کېږي. غږ او غږغونډونه چې د یوې فزیکي ښکارندې په توګه له خولې راوځي ، یوه معنا او مفهوم بل وګړي ته لېږدوي ، چې معنا او مفهوم بیا یوه ذهني ښکارنده ده .

**سریزه :** د ژبپوهنې یو ډول دا موضوع څیړي چې ژبنۍ لړۍ او چار له عصبي سیستم او مغزو سره څه اړیکی لري. ژبه د یوه غریز سیستم په توګه د عصبي سیستم تر څار لاندې فعالیت کوي . عصبي سیستم او مغزه یوځوا د ګړیدلو د فعالیت څارګر دي او غږغونډونه یا وییونه هغه معناوې بل ته لېږدوي چې زموږ په مغزو کې دي ، بلخوا د اوریدنګ فعالیت هم له مغزو سره اړیکی لري .

**کلیدي نوموني :** ژبه ، وینا ، عصبي سیستم ، مغزه .

**ارزښت :** دا څېړنه د ژبې او غریزي پوهونې په لړۍ او بهیر کې د عصبي سیستم او مغزو پر تخنیکي ونډې ځرخي . دا ډول څیړنې په پښتو ژبه کې په نشت شمېرل کېږي ، ځکه یې اړتیا ډېره ده . دا څېړنه په ژبه کې د ونډوالو اړخونو د پېژندنې لپاره اغېزناکه او ګټوره ده .

**مبرمیت :** پښتو ژبپوهنه که څه هم تر یو ځایه رسېدلې او د پښتو ژبې زده کوونکو او څېړونکو ته کافي مواد لري ، خو لا ډېر کار ته اړتیا شته ، په نړیوالو معتبرو او پرمختللو ژبو کې ژبپوهنه ډېره بډایه ده . کومه موضوع چې په دې لیکنه کې څېړل شوې ، په پښتو کې یې څرکونه لږ یا هېڅ دي . دا موضوع د ژبې د څېړنې او پوهېدنې په لړ کې ډېره مهمه ده چې پوه شو ، مغزه په ژبه او وینا کې څه ونډه او څه ډول کار کوي .

**موخې :** د وګړني او ټولنيز پوهاوي يوه بشپړه ګټوره وسيله ژبه ده چې له غړونو او غړغونډونو رغېدلې ده . د ژبې او ګړېدنګ په چار کې د مغزو ونډه پېژندل او په هغې پوهېدل د دې څېړنې موخه ده . همدارنګه په دې وسيله د څېړونکې لپاره د معنوي امتياز لاسته راوړنه د دې ليکنې بله موخه ده .

**مواد او ميتود :** د دې څېړنې او د موضوعاتو د رڼاوي او سپيناوي لپاره له ګټورو او باوري اخځونو ګټنه شوې ده .

ژبه د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې غړيز سيستم دی او مغزه د ټولو انساني خوځښتونو مرکزي څارګر ، په دې معنا ، هر ډول خوځښت چې د انسان په بدن پورې اړه لري ، په يو ډول له مغزو سره تړل کېږي . د پوهونې او راپوهونې لړۍ خو بيا هسې هم څرګند مغزي فعاليت ګڼل کېږي. د ژبې او وينا اصلي موخه هم د وګړو ترمنځ د اړيکو ټينګښت او يو بل ته د هغو مفاهيمو لېږدونه ده چې د دوی په مغزو کې دي. ژبنی غړيز سيستم د مفاهيمو د يوې لېږدونکې وسيلې دنده ترسره کوي. موږ دلته هڅه کوو ، هغه تخنيکي لړۍ وسپړو چې مغزه څه ډول په ژبه ، ګړهار ، وينا او پوهونه کې ونډه اخلي.

**پوښتنې :**

**۱ـ** د مغزو جوړښت څه ډول دی ؟

۲ ـ په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه څنګه او څومره ده ؟

۳ ـ د مغزو په کومه برخه کې د وينا عمل ترسره کېږي ؟

۴ ـ د مغزو په کومه برخه کې اورېدنه ترسره کېږي ؟

ژبه د داسې ترونې ، غړيزو پيلامو يو غونډال دی چې د يوې ټولنې وګړي يې د خپلمنځي تړاو او پوهاوي لپاره پر کار اچوي (۳ : ۲۸) .

کله چې څوک وغواړي يو څه په ژبه راوړي ، لومړی يې مغزو کې يو غړانځور جوړېږي چې يو روحي چار دی ، مغزه غړيز غړي په کار اچوي چې د سا هوا او بيا بهرنۍ هوا په مرسته غږ پر څپو بدل کړي. په دې توګه د همغه غوښتنې يا موخې ذهني غږ انځور د ويلو او اورېدلو وړ ګرځي او ګړنی يا ژبنی چار ترسره کېږي. نو که غږېدونکی غواړي همغه څه يو بل چا ته څرګند کړي ، په بله وينا ، د چا خبرې واوري ، همدا چار په سرچپه ډول پيل او پای مومي.

له غوږ نه يې مغزو ته د فزيولوژيکي لېږد او بيا يې په مغزو کې له ګړېدونګي سره روحي سازښت ، معنا دا چې که اورېدونکی پر خپل وار هم وغواړي له ګړېدونکي سره وګړېږي ، نو د ده له غوږه د غږېدونکي تر غوږ پورې به همغه لار وهي ، لکه پاس چې څرګنده شوه ( ۴ : ۸ ).

ژبه د کړکيچنو عصبي ، عضلي او فزيکي عمليو او خوځښتونو ټولګه ده . د انسان عصبي جهاز او مغزه د ګڼو عصبي سلولونو له ټولګو څخه جوړ شوی دی چې نومېرلې دندې لري. د مغزو په يوه برخه کې يو شمېر عصبي ولې غځېدلي او په مستقيم او نامستقيم ډول د بدن ټولو غړو او غړيزو غړو ته رسېږي. کله چې وغواړو يو څه په ژبه راوړو ، لومړی يو ډول عصبي فعاليت د مغزو په خوځند ځای ( Motor Aria ) کې رامنځته کېږي چې د غړيزو غړو کنټرول يې پر غاړه دی. که څه هم د دې فعاليت لامل او ډول په سمه توګه څرګند نه دی ، خو د فزيولوژۍ پوهان وايي چې دا فعاليت په سلولونو کې د يوې کيمياوي عمليې له کبله ترسره کېږي او د غړيزو غړو د خوځښت او فعاليت لامل ګرځي. په دې ډول ګړهار يا وينا په څو پړاوونو کې پای ته رسي :

۱ ـ ګړيدل ، په دې معنا چې عصبي فعاليتونه پيلېږي او غړيز غړي خوځوي ؛

۲ ـ د غړيزو غړو په خوځېدو سره د سا هوا او بيا له انسان راګرځېدلې هوا څپيزه کېږي او په دې ډول وينايیز غږونه زېږي ؛

۳ ـ د انساني چاپېريال هوايي څپې د متحدالمرکز کرو په څېر خوځېږي او لار وهي؛

۴ ـ او د اورېدونکي غوږ ته رسي ؛

۵ ـ د اورېدونکي غوږونه ، اورېدلي غږونه د اورېدونکي حس د عصبي وليو په مرسته مغزو ته لېږدوي. دا غږونه ، له هغو غړيزو بېلګو او نظامونو سره چې وييونه او غونډونه يې نوموو او په حافظه کې خوندي او زېرمه دي ، تطبيق کېږي او د هغوی د مفهوم او مدلول له درک وروسته وېناوال يا ګړېدونکي ته ځواب وايي او دا عمليه بيا ترسره کېږي ، په دې ډول د ژبنۍ يا غږيزې پوهونې عمليه او ګړېدل پای ته رسي( ۱ : ۳۲ – ۳۳ ) .

روغتيايي او اروايي ( فزيولوژي ) عصبي سيستم داسې راپېژني :

عصبي سيستم د غړو ټول فعاليتونه کنټرولوي ، دا سيستم د اندوکراين په پرتله چټک دی چې اندوکراين هم يو کنټرولي سيستم دی. د انسان عصبي سيستم په ټوله کې دوه لويې برخې لري :

- مرکزي عصبي سیستم Central Nervous System
- محیطي عصبي سیستم Peripheral Nervous System

مرکزي عصبي سیستم بیا لاندې دوې برخې لري :

- مغزه Brain
- شوکي نخاع Spinal Cord

محیطي عصبي سیستم چې له مغزو او شوکي نخاع څخه بهر پروت دی ، هم دوی برخې لري :

۱ـ ځاني یا خودکاره عصبي سیستم Automatic Nervous System

دا سیستم بیا لاندې برخې لري :

- سمپاتیتیک عصبي سیستم Sympathetic Nervous System
- پاراسمپاتیتیک Parasympathetic Nervous System
- د هاضمې جهاز دننني عصبي سیستم Enteric Nervous System

۲ ـ جسمي عصبي سیستم Somatic Nervous System

دا هم لاندې برخې لري :

- حسي نیورونونه Sensory Neurons
- حرکي نیورونونه Motor Neurons

مغزه بیا لاندې درې لویې برخې لري :

- Prosencephalon : چې مخنۍ مغزه ( Forebrain ) یې هم بولي ، لاندې دوی برخې لري :

۱ ـ Telencephalon : چې د مغزو دوه برخې یا کرې پکې دي .

۲ ـ Diencephalon : چې تلموس ، هیپوتلموس ، میتاتلموس او سب تلموس پکې دي.

- Mesencephalon: چې منځنۍ مغزه (Midbrain) یې هم بولي.
- Rohmbencephalon : چې وروستۍ یا کوچنۍ مغزه ( Hindbrain ) یې هم بولي ، په دوو برخو ویشل کېږي :
- Metencephalon چې له حدبه (Pons) او مخیخ (Cerebellum) څخه رغېدلې برخه ده .

- Myelencephalon یا د Medulaoblangata بصله (۷: ۷۱ - ۷۲).

مرکزي عصبي سیستم چې له مغزو ( Brain ) او شوکي نخاع ( Spinal cord ) څخه جوړ دی چې پر حیاتي عملونو باندې د څار مرکزونه دی . په دې معنا چې د چاپېریال او د بدن له دننه څخه اخیستل شوي اطلاعات تشخیص او تعبیروي او هغوی ته ځواب وايي .

په مغزو کې ( لوی او مخنی ، منځني او د مغز ساقه ) برخې ګډون لري ، د لویو مغزو هغه برخې چې زموږ د څېړنې سره سیده اړیکي لري ، په لاندې ډول ، د هغوی له دندو سره :

Frontal برخه: خبرې کول ، رفتار یا سلوک ، د مسایلو حل ، پلان جوړونه .

Parietal برخه: د درد حس ، فشار ، تماس ، تودوخه ، خوند.

Temporal برخه: اورېدل ، بویول ، د بدن توازن ، حافظه

Occipital برخه: لیدل ، د ژبې زده کړه ( ۲ : ۵۵ ، ۵٦ ) .

د (فزیولوژي طبي) اثر د یادو برخو دندې داسې لیکي :

Frontal د پرانتل برخه یا پیڅکی

- د فکر ، ګړېدا او اروایي حالت کنترول
- د ځوځښتونو پلان رامنځته کول

Parietal دیوالي پیڅکی

- د پوټکي ، مفاصلو او غوږ د حسي آخذو اخیستنه او د درد او اړیکو د آخذو په توګه د هغوی تحلیل ، په فضا کې د پښو او لاسو وضعیت .
- د غوږو او سترګو د وارداتي بهیر تحلیل .

Occipital د اکسیپیتل پیڅکی

- د لید مرکز

Temporal د شقیقې پیڅکی

- د غږ تحلیل
- اروایي احساس
- د ځیزونو د بڼې او رنګ تحلیل

- پر ګړېدلو پوهېدل
- د بویلو ځای ( ۷ : ۷۹ ) .

د (روان شناسی عمومي) لیکوال د یادو برخو دندې داسې ښیي :
مخنی پیشکی ( Frontal lobe ) د ډېرو استعدادونو ځای دی ، چې کولای شو له هغو څخه یې د خپلوی ، نوښت او پلان جوړونې څواک نومونه یاد کړو .
(Parietal lobe) : دا پیشکی یا برخه د مغزو په پورتنۍ برخه کې د مخنیو مغزو تر شا پرته ده. بدني حواس همدلته رامنځته کېږي او د ژوند د چاپیریال اړوند یادښتونه هم همدلته زیرمه کېږي .
د وروستیو مغزو برخه ( Occipital lobe ) : په بشپړ ډول د سترګو او لیدنو د درک لپاره ځانګړې شوې ده .
د شقیقې پیشکی ( Temporal lobe ) : د سترګو او غوږو ترمنځ مغزو په دواړو لوریو کې ځای لري . اصلي دنده یې د اورېدلو درک ، ژبه ، حافظه او د هېښتیا منلو ځینې بنې دي( ٦ : ٦٧ ، ٦٨ ) .
له پورتنیو ټولو یادونو زموږ موخه داده چې په مغزو کې هغه برخه وپېژنو چې په ژبه ، پوهونه ، ګړېدنګ او اورېدنګ کې ونډه لري . ځینې د عصبي سیستم او مغزو هغه برخه چې په ژبنیو فعالیتونه پورې اړه لري داسې رانښي :
۱ ـ د Broca برخه : پرانسي رنځپوه ( پیرپل بروکا ) پر ( ۱۸٦۱ م ) کال پر هغو وګړو ازمېښت وکړ چې ګړېدنګ کې یې نیمګړتیا وه او پوه شو چې د مغزو کومه برخه کې زیان ، د ژبنۍ او ګړېدنګ نیمګړتیا او تتله کېدو لامل ګرځي. له همدې کبله د مغزو دغه برخه د هغه په نوم ( بروکا ) یاده شوه . ( ۵ : ۸۵ )

دا برخه د مخنیو مغزو په کیڼ اړخ کې پرته ده او د غړونو د زېږد دنده لري (۸ : ۳٦ ) .







۲ ـ Wernicke برخه : کارل ورنیک الماني رنځپوه ، د (پیرپل بروکا) لار په بل ډول وڅارله . هغه پوه شو چې د ګړېدنګ نیمګړتیا په ټوله کې د ( بروکا ) د برخې زیان نه دی ، بلکې یوه بله برخه چې د بوهېدنې او درک دنده لري ، د ژبنۍ یا ګړېدنګ نیمګړتیا لامل ګرځي . له همدې کبله د مغزو دغه برخه د دې پوه په نوم ( ورنیک ) یاده شوه ( ۵ : ۸۵ ) .

اروایي فزیولوژي د هغو وګړو وضعیت څېړلی چې ژبنۍ نیمګړتیا لري او دا یې روښانه کړې چې دا نیمګړتیاوې د مغزي زیانونو له کبله رامنځته کېږي .ځینې وخت مغزي سکتې ، تومورونه او نور په وینا یا ګړېدنګ کې د اختلال لامل ګرځي. د دې حالتونو یو مهم یې د مغزي رګونو تړل کېدل دي ، که د ګړېدنګ په اړوندو مرکزونو کې رامنځته شي ، د ژبې یا ګړهار د نیمګړتیا یا تتله کېدو لامل ګرځي. په ژبنۍ یا وینایيزه نیمګړتیا کې د مغزي زیان له امله د ژبې په پوهېدنه ، د جملو تکرار او معناوال ګړېدنګ کې نیمګړتیا پېښېږي.

د ښي لاسو وګړو تر ۹۵ سلنه ډېر او د کیڼ لاسو ۷۰ سلنه د ګړېدنګ لپاره د هغوی د مغزو کیڼه برخه یا کره کاروي. دې ته هم پام په کار دی چې د مغزو ښي نیمه کره هم د ګړېدلو پر وخت د قضایي اړیکو ، نقشو او کړکیچنو هندسي تصویرونو په درک کېستره ونډه لري ( ۵ : ۸۴ ) .

**پایله :** د دې څېړنې په بېلابېلو برخو کې دا موضوع رڼه او روښانه شوه چې د ژبې او ګړېدنګ په چار کې عصبي سیستم او مغزه څه راز ونډه اخلي او د معناوو د بهرنې شتون او لېږد لپاره مغزه څه چار ترسره کوي . دا څرګنده شوه چې د پوهاوي لپاره لومړی خوځښت په مغزو کې رامنځته کېږي

او سمدستي د وينايیزو او غږيزو غړو په وسيله اړوند غړونه او وييونه رازېږي . غږونه او وييونه د هغو ذهني ښکارندو او معناوو د لېږد لپاره وسيلې دي چې زموږ په مغزو کې زيرمه شوي دي .

**مناقشه :** په پښتو ژبه کې د نيرولينګوستيکس ( Neurolinguistics ) په اړه څېړنيز مواد دومره لږ دي چې سړی پرې د نشت حکم کولای شي . له دې کبله حتا د دغې پوهې نوم هم په پښتو کې په نشت شمېرل کېږي ، خو موږ به ورته (مغزژبپوهنه) ووايو . دا پوهه د ژبپوهنې يوه څانګه ده چې په هغه څه غږېږي چې د دې ليکنې سرليک دی . يادہ پوهه د مغزو او وينا يا ژبې ترمنځ اړيکې څېړي.

**وړانديزونه :** د نړۍ په کچه په ژبنيو مسايلو او د ژبپوهنې په برخه کې پراخ کار شوی چې له بده مرغه مرغه جګړه ځپلې پښتو ترې دومره لرې پاتې شوې ده . د پښتو ګرامرپوهانو د زيار او کړاوه وروسته هم موږ د نورو پرمختللو ژبو په څېر بشپړ مواد نه لرو . دا چې دغه ډول مسايل د پوهنتونو د ژبې او ادب په برخه کې ښوول کېږي ، نو په کار ده ، دومره مواد پکې ولرو چې د ښوونکو او زده کوونکو سره مرسته وکړي . د ژبې څانګوالو ته وړانديز دی چې دغې برخې ته پام وکړي .

**اخځونه :**


١ ـ الهام ، محمد رحيم . ( ١٣٩١ ش ) . روش جديد در تحقيق دستور زبان دری (چاپ دوم ، به کوشش سيد علی محمد اشراقی ) . کابل : انتشارات يوسفزاد .

٢ ـ جبران ، جوهر . (١٣٩٦ ش ) . د ارواپوهنې مبادي . ننګرهار : مسلم خپرندويه ټولنه .

٣ ـ زيار ، مجاوراحمد . (١٣٩٦ش) . پښتو وييپوهنه او وييرغاونه ( دربيم چاپ ) . کابل : دانش خپرندويه ټولنه .

۴ ـ زيار ، مجاوراحمد . ( ١٣٨٢ش). پښتو پښويه . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه.

۵ ـ شمس ، شمس الدين (١٣٩٢ش). روانشناسی فزيولوژيک. کابل : انتشارات نامی .

٦ ـ عليمی ، سراج الدين ؛ صديقی ، ذبيح الله ؛ حبيبی ، محمدناصر. (١٣٩٢ش) . روانشناسی عمومی . کابل : انتشارات يوسفزاد .

٧ ـ فروتن ، محمدناصر.(١٣٩٦ش). فزيولوژي طبی ( چاپ دوم ) کابل : انتشارات عازم .

٨ ـ مرهون ، محمد .(١٣٩۴ش) . اوازپوهنه . کابل : کاينات څيړنيز او د ژباړې مرکز .

## د یاګانو زده کړې یوه لار

پوهندوی شاه محمود کډوال

د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی ـ لغمان پوهنتون

**لنډیز :** د پښتو لیکلار یوه ستونزه د څو یاګانو په لیکلو کې تېروتنه ده چې زده کوونکي او پوهنپال په کارونه کې ورسره مخ کېږي . له بده مرغه هغوی چې د پښتو ادب ځانګوال دي هم د یاګانو په کارونه کې ستونزه لري او دغه بېلابېل آوازونه ( Phonemes ) په ټاکلو تورو یا ( Graphemes ) کې رانغاړلای نه شي. یوه خوا د دې آوازونو غږیز نږدېوالی او بله خوا یې د تورو جولیز نږدېوالی د دې لامل ګرځي چې ډېری زده کوونکي او لیکوال یې په سمه لیکنه کې تېروځي . د دې یاګانو د سم وینګ په برخه کې ستونزه نه شته ، هغوی چې مورنۍ ژبه یې پښتو ده ، یاګانې سمې وایي ، خو همدا ویونکي بیا د یاګانو د لیک په برخه کې ستونزه لري ، ځکه د آواز او توري ترمنځ اړیکي تېینګولای نه شي .

**سریزه :** د پښتو آوازونو په ډله کې څلور آوازونه د یاګانو په نوم یادېږي چې غږیز او انځوریز نږدېوالی لري. د دغو سره نږدې آوازونو په لیک کې ګڼ زده کوونکي ستونزه لري او سم یې لیکلای نه شي . ځینې حتا په دې نظر دی چې ټولې یاګانې دي یو ډول ولیکل شي ، خو دې ته پام نه کوي چې دا هر یو جلا آواز دی او هر آواز باید په خپله نښه یا توري ولیکل شي چې لوستونکی یې هم سم ولولي . د پښتو ژبې ځینو نورو آوازونو په انځوریز کښنګ کې هم ستونزه شته ، خو دا چې د هغو آوازونو کارونه دومره ډېره نه ده ، نو زده کړه یې هم اسانه ده ، خو د یاګانو کارونه ډېره ده ، ځکه یې زده کړه هم اړینه ده . موږ دلته هڅه کړې چې د یوې نوې لارې په کارونه د یاګانو په زده کړه کې له زده کوونکو سره مرسته وکړو .

**کلیدي نومونې :** آواز ، فونیم ، ګرافیم ، توري .

**موخې :** د دې ليکنې موخه ، د پښتو د ليکنې بهير له پرمختګ سره مرسته ده چې زده کوونکي وکولای شي ، پښتو په سم او کره بڼه وليکي. د دې ترڅنګ د څېړونکي له پاره د معنوي امتياز لامل هم شي.

**مواد او ميتود :** د دې ليکنې او څېړنې له پاره له باوري سرچينو ګټنه شوې ده . په دې برخه کې له څيړونکي سره شته آثار کتل شوي چې لوستونکو ته غوره مواد چمتو شي . د دې څېړنې ډول کتابتوني او ميتود يې تشريحي ـ توصيفي دی .

آوازونه داسې ښکارندې او پيوونونه دي چې د انسان په اورېدني يا سمعي حس پورې تړاو لري ، په ژبه کې له يو چا سره د ژونديو يا مستقيمو خبرو پر وخت د پوهاوي په موخه کارېږي . د دې ترڅنګ ، توري بيا هغه پيوونونه دي چې د آوازونو د استازيو په توګه په ليدني يا بصري حس پورې اړه لري . موږ چې کله ځينې نښې يا توري ګورو ، نو ټاکلي آوازونه له خولې راوباسو يا يې له خپل ځان سره لولو چې دلته بيا آوازونه نه زېږوو يواځې فکري فعاليت مو پوهوي ؛ په دې مانا چې د سترګو په وسيله نښې يا توري يا مانيز يوونونه (ويي) ګورو ، هغه ماناوې چې په دې تورو او وييو کې نغښتې ، زموږ ذهن ته راځي او ذهن پرې خپل کار کوي . بله خوا دا چې موږ څنګه وکولای شو خپل ذهني او فکري توکي په تورو کې راونغاړو ، دا کړن کړاو او تمرين ته اړتيا لري چې وکولای شو د تورو او آوازونو ترمنځ تړاو پيدا کړو او د غوښتنې يا ليکنې پر وخت غوښتل شوی توری وليکو .

توری هغه ليد وړ انځور دی چې د يوه آواز يا څو آوازونو ښکارندويي کوي ( ۳ : ۱۱ ) .

توری ، حرف او ګرافيم د يوه غږ ليکل شوی شکل يا بڼې ته وايي يا په بله وينا ، د ليدوړ هغه رسم يا انځور دی چې د يوه آواز ښکارندويي کوي. زموږ په ګړنۍ ژبه يا اصطلاحاتو کې اکثره وخت خلک د آواز او توري (حرف) توپير نه کوي ، دواړه په يوه مانا کاروي ، سره له دې چې توري او آوازونه په مترادفه مانا کارېږي، خو په حقيقت کې توری د آواز تابع دی او د هماغه آواز ښکارندويي کوي چې توری ورته د نښې (سېمبول) په توګه غوره شوی دی ( ۹ : ۱٦ ) .

ژبه له آوازونو څخه رغېدلې ، همدا آوازونه سره يا په ساده يا ترلې ډول يوه مانا خوندي کوي يا د يوې مانا استازيتوب کوي. توري او بيا ليک د دې له پاره رامنځته شوي چې وګړني مفاهيم خوندي او له يوه ځايه بل ته ولېږدوي .

ژبه د داسې تړوني غږيزو پيلامو يو غونډال دی چې د يوې ټولنې وګړي يې د خپلمنځې تړاو او پوهاوي له پاره په کار اچوي ( ۵ : ۲۸ ) .

آواز يا فونيم د ژبې تر ټولو کوچنی غږيز عنصر دی چې په خپله کومه مانا نه لري ، بلکې په مانيزو يوونو کې مانيز توپير پېښوي ( ۲ : ۱۱ ) .

کوشنيان د زده کړې يو پړاو هغه وخت تېروي چې نوې ژبه زده کوي ، دا کار هم په کور او هم په ټولنه کې کړاو غواړي چې کوشني پکې زده کوونکی او لويان يې ښوونکي دي . بل پړاو بيا د ليک دی چې په دې پړاو کې کوشني بايد د آواز او توري ترمنځ په تړاو پوه شي او په دې پوه شي چې کوم توری د کوم آواز انځور دی ؟

ليک د طبيعي نيمګړتيا له مخې نيمګړی دی ؛ په دې مانا چې په ټوله کې ليک يوه مره ښکارنده ده چې د ګړنی يا ژوندۍ ژبې بشپړ استازيتوب کولای نه شي چې پښتو ليک هم خپله نيمګړتيا لري ، خو د ياګانو يې ډېره ليدل کېږي او هغه له دې کبله چې يو خو د ياګانو آوازونه (Phonemes) سره نږدېوالی لري ، بله خوا يې توري هم سره يواځې په ډېرو کوشنيو توپيرونو سره جلا کړې دي ، د دې ترخنګ يې نومونه هم سره ورته دي ، لکه چې وايو څلور يا پنځه ياګاني . که دغه ورتوالی يا نږدېوالی نه واى ، نو زده کوونکي به پکې نه تېروتل . دا چې څلور ياګاني هر يو جلا آواز يا فونيم دی ، په کار ده نومونو او تورو کې يې هم داسې ستر توپير راوړل شي چې زده کوونکي پرې تېر نه وځي او په اسانه يې زده کړي .

د پښتو ياګانو دا څلور آوازونه په حقيقت کې څلور بېلابېل آوازونه دي چې د پنځو نړدې همجوليزو تورو يا ګرافيمونو په بڼه افاده کېږي ، له همدې امله دا بېلابېل آوازونه په دوديز ډول د يوه توري ؛ ياګانو په نوم يادېږي ( ٦ : ٢٦ ) .

که ليکوال غواړي چې د دغو آوازونو د ليکبڼو ترمنځ توپير وکړي ، د هري ليکبڼې له وينګ سره دې ځان اشنا کړي ، بيا د آواز او ليکبڼې ترمنځ اړيکی په اسانۍ سره ټېنګېدای شي . زموږ ستونزه دا ده چې ځان له ليکبڼې (ی ، ي ، ې ، ۍ ، ئ) سره اشنا کوو ، خو دا را څخه هېر وي چې د دوی ترمنځ د وينګ توپير څرنګه دی ؟ ( ٨ : ٧۴ ).

پښتو ياګانې څلور آوازونه او پينځه توري دي چې له بده مرغه نه يوازې عام وګړي يې په ليکلو کې ستونزه لري ، د پښتو ځانګې ځانګوال يې هم په سمه توګه ليکلای نه شي . د دې د زده کړې له پاره لاندې يو فورمول يا لاره په کار اچوو چې په مرسته يې وکولای شو ياګانې سره توپير کړو :

په څلورو نړدې ورته وييو کې ياګانې جلا کوو . بله خوا دا چې ورځ تر بلې د دې ياګانو نومونه ډېرېږي ؛ پوهنپالو ته ښايي په دې اړه ډېر فکر ونه کړي ، يوازې کاري اړخ يې ډېر د پام وړ دی .

١ - نرمه ، نارينه ، يوګړې ، بې ټکو ، ساده او زوروالي يا (ی) يا غبرګغږ : د دې له پاره (سړی) په خپل ذهن کې ځايوو او کله چې کوم نوی وييی اورو ، نو د همدې وييي په کالب کې اچوو او وروستی آواز ګورو چې ورسره يو دی او که توپير لري ، بېلګه :

(ی) سړی : لرګی ، زمری ، غويی ، پسرلی ، کورنی ، مرګنی ، پردی ، ژمنی ... .

دغه آواز د پښتو ليک له مخې ساده ، خو د غږپوهې له مخې غبرګغږ دی . غبرګغږ هغه ترښتي آواز ته وايي چې د خپلواک او نيمواک آواز په ملګرتيا منځته راځي او لکه يوستوی آواز يو وار پتليز له خولې راوځي . د يوه غبرګغږ لومړی ټوک (آواز ، فونيم ) خپلواک او دويم يې نيمواک وي ( ۴ : ٢٩ ) .

همدغه ( ی ) که د کلمو په منځ کې راځي ، هلته کومه ځانګړې نښه نه لري او د ځرګندي ( ي ) په نيمګړې بڼه ليکل کېږي ، لکه : په غيرت او هيبت کې له ( غ او هـ ) وروسته آواز چې نارينه (ی) ده ، خو ( ي ) ليکل کېږي ، ځکه د کلمو په منځ کې د نارينه ( ی ) له پاره نښه نه لرو .

۲ - ډېرګړې يا جمع او ځرګنده يا (ي) : د دې د زده کړې له پاره هم پورتني ويې ته ورته ويی (سرې) کاروو ، بېلګه :

(ي) سرې : لرګي ، زمري ، غوبي ، پسرلي ، کورني ، مرګني ، پردي ، ژمني ، خوري ، ځي ، کري . . . .

دا آواز يو داسې اورد ، پورتنی ، مخنی خپلواک دی چې په ډېرو ګړدودو کې په درون خج ويل کېږي ( ۱ : ۲۱ ) .

۳ - اوږده يا (ې) : د دې (يا) توپير هم په لاندې ويې کې کولای شو چې د پورتنيو ويیو (سرې او سرې) سره نږدې دي ، بېلګه :

(ې) سرې : ادې ، شودې ، خورې او ليکې . . . .

اوږده (ې) منځوال ، مخنی ، ناګرد او تينګ آواز دی . په سر او منځ کې ډېر اوږد او په پای کې لږ څه لنډ راځي ( ۷ : ۱۵ ) .

۴ - زورکۍ واله يا (ی ، ئ) سرې : ځيني وخت پښتني ميندې خپلو لوڼو ته وايي (سرۍ شه!) په دې مانا چې ارامه او کراره شه ، غلې کېنه او شيطاني مه کوه . دلته (سرۍ) بيا له (سرې ، سرې او سرې) سره نږدې ورته ويی يا جوله ده او د زده کړې له پاره ډېره مهمه ده چې په يوه ويي کې يواځې د وروستۍ برخې توپير چې همدا ياګانې دي ، وپېژنو. که څه هم ډېره کارېدونکې ويس به نه وي ، خو د زده کړې له پاره ګټور دی . بېلګه :

(ی) سرۍ : څپلۍ ، خولګۍ ، سپوږمۍ ، مرمۍ ، ملالۍ او ګلالۍ .

همدې يواځينې آواز ته دوه توري يا ګرافيمونه (ې ، ئ) ټاکل شوي چې دليل يې دا ښوول شوی چې يو يې په نومونو او بل يې کړونو کې راځي . نومواله (اسمي) يې وړاندې وليکل شوه چې (ې) ده او کړواله (فعليه يا امريه) يې د (ئ) په بڼه ده چې په (وخورئ ، وليکئ ، شئ ، کړئ ... .) کړونو کې راغلې ده . د يادولو وړ ده چې يواځېني آواز يا فونيم ( زورکې واله يا ) په (ې او ئ) تورو يا ګرافيمونو وېشل د پښوييزو و ليکلاريزو ربړو ډېرول دي ، کومه ګټه يې نه وينو ، ځکه کله چې آواز يو دی ، نو توري يا ګرافيمونه ولې دوه (ې او ئ) وي ؟ که داسې وي ، نو د نورو ياګانو په برخه کې هم بايد دا وېش شوی وای ، ځکه هغه هم په نومونو او کړونو کې راځي ، لکه :

ښادي ، مستي (نومونه) او ورځي ، ترې (کړونه)

ادې ، مستې (نومونه) او خورې ، ورځې ، ترې (کړونه)

آوازونو ته د وړ تورو ، ګرافيمونو ، نښو او سېمبولونو په لړ کې ، بله ستونزه دوو غبرګغږونو له پاره د نرمې يا نارينه (ی) کارونه ده چې دا بيا د ياګانو شمېر نړدې شپږو يا اوو ډولونو ته رسوي .

د (oy) او (uy) دوه غبرګغږونه هم په (ی) ښوول کېږي ، په لومړي غبرګغږ پای نومونه ، لکه (زوی) کې او په دويم غبرګغږ پای نومونه ، لکه ( خوی ، بوی ) ، خو دا چې د لومړنيو څلورو ياګانو کارونه ډېره او د دوو وروستيو لږه ده ، نو لومړنيو ته ډېر پام په کار دی .

**پايله :** د دې څېړنې په ترځ کې د ياګانو د زده کړې له پاره يوه نوې ټاکل شوې لار زده کوونکو ته وړپېژندل شوه چې په مرسته يې د ياګانو څلورګونې ډولونه زده کړي او د ليکنې پر وخت ترې ګټه واخلي او په توپير يې پوه شي . د ياګانو ډولونه په نږدې ورته وييونو کې چې توپير يې يواځې د ياګانو په يو ډول کېږي زده کوونکو ته وړاندې شوي ، که دغه وييونه د فرمول په بڼه ځان سره خوندي کړي ، نو ياګانې پرې يو له بله توپيرولای شي .

**مناقشه :** د ياګانو د زده کړې په برخه کې د پښويې او ليکوالۍ نږدې ټولو کتابونو په يو ډول هڅه کړې ده چې درنو زده کوونکو او ليکوالو ته ګټور مواد وړاندې کړي چې دغه ستونزه او نيمګړتيا

بشپړه شي. دا ليکنه د يوې جلا عملي ليکنې په توګه په يوه ځانګړې بڼه د ياګانو د زده کړې نوې لار وړاندې کوي چې زده کوونکي په چټکه توګه وکولای شي ياګانې زده کړي .

**اخځونه**


۱ ـ پنزل ، هربرت . ( ۱۳۸۹ ل ) . د پښتو ګرامر ( د محمد رحيم الهام ژباړه ) . کابل : دانش خپرندويه ټولنه.

۲ ـ خيشکی ، محمد صابر . ( ۱۳۹۲ ل ) . پښتو غږپوهنه او وييپوهنه . جلال اباد : مومند خپرندويه ټولنه .

۳ ـ زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۲ ل ) . پښتو پښويه . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۴ ـ زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸۴ ل ) . پښتو پښويه . پېښور : دانش خپرندويه ټولنه .

۵ ـ زيار ، مجاور احمد . ( ۱۳۸٦ ل ) . پښتو وييپوهنه او وييرغاونه . کابل : دانش خپرندويه ټولنه .

٦ ـ شېرزاد ، محمد آقا . ( ۱۳۹۵ ل ) . ليکوالي . کابل : جهان دانش خپرندويه ټولنه .

۷ ـ هاشمي . سيد محی الدين . ( ۱۳۸۳ل ) . د پښتو ژبې لنډ ګرامر . پېښور : د اريک د ګرځنده کتابتونونو اداره .

۸ ـ همکار ، محمدابراهيم . ( ۱۳۹۵ ل ) . ليکوالي . جلال اباد : مومند خپرندويه ټولنه .

۹ ـ يون ، محمد اسمعيل . ( ۱۳۸۷ ل ) . پښتو ليکنی سمون. کابل : يون کولتوري يون .